

اتمه كـــنه – اكست، ٢٠٢٥ ز

# الرسالة

# Al-Risala

Ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

# الرسالة

# Al-Risala

اتمه كـــنه – اكست ، ٢٠٢٥ز

(c) ketabton.com: The Digital Library

بسم الله الرحمن الرحیم

(c) ketabton.com: The Digital Library

# په دې ګڼه کې


| عنوان | مخ |
|---|---|
| جنتي خلک | ۵ |
| د شرعي قانون حکمتونه | ۷ |
| د اسلام پيغمبر | ۱۰ |
| اسلامي تاريخ | ۲۴ |
| هغه نظريات چې مذهب يې د بشر تخليق باله | ۳۸ |
| د قرآن کرشمه | ۴۳ |
| شات، يو عجيب نعمت | ۴۵ |


او نور ډېر څه...

(c) ketabton.com: The Digital Library

# جنتي خلك

امام نسائی له انس بن مالک نه روایت کړی، چې یو ځل درې ورځې پرلپسې رسول الله صلی الله علیه وسلم په خپلو ناستو کې وفرمایل، چې اوس به یو داسې انسان ستاسې مخې ته راشي، چې د جنتي خلکو له ډلې څخه دی. هر ځل به دغه راتلونکی کس د انصارو یو شخص و. د دې خبرې په لیدو عبدالله بن عمرو بن عاص رض ته تلوسه پیدا شوه، چې آخر هغه کوم عمل دی، چې د هغه په سر نبي کريم صلی الله علیه وسلم هرځل د دې سړي په اړه دا خبره کوي. نو عبدالله بن عمرو بن عاص په یوه پلمه درې ورځې پرلپسې د هغه صحابي کره تېرې کړې. دی په دې فکر کې و، چې هغه صحابي به ښايي کوم ځانګړی عبادت کوي، چې دا مقام يې په برخه شوی دی. خو د هغه په عبادت او د شپې په کړو وړو کې يې کوم غيرمعمولي څيز ونه ليده. اخر يې پخپله له هغه نه پوښتنه وکړه، چې وا وروره! ته کوم داسې عمل کوې، چې د هغه په سر مونږ د رسول الله ص له مبارکې ژبې ستا په هکله دومره ستر زېرى اورېدلى دى. هغه وویل، زما د عبادت حال خو هغه دی، چې تاسې پخپله ولیده، البته کېدی شي، چې یوه خبره به یې سبب شوې وي او هغه دا چې:

«لا اجد في نفسي غلا لاحد من المسلمين،

ولا احسده على خير اعطاه الله تعالى.»

**ژباړه: زه په خپل زړه کې د هېڅ مسلمان په خلاف کینه نه ساتم، او نه په یوه داسې ښېګڼه له مسلمان سره حسد کوم، چې خدای ورپېرزو کړې وي.**

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د اسلام رښتوني څواک

په انجیل کې د حضرت محمد صلی الله علیه وسلم په اړه یو شمېر وړاندوینې راغلې دي، له هغو څخه یوه دا هم ده: **ومن فمه یخرج سیف ماضٍ لکی یضرب به الامم**. د قومونو د وهلو لپاره به یې له خولې نه تېزه توره راوځي. (د یوحنا عارف مکاشفه ۱۹: ۱۵)

د دې معنا دا ده، چې وروستي پیغمبر ته به داسې دین ورکول کېږي، چې څواک به یې اوسپنیزه توره نه وي، بلکې د خبرو او کلماتو توره به وي او په فکري څواک به ملتونه مغلوبه کوي. دی به له هغه څواک نه کار اخلي، چې له ژبې راوځي، نه له هغه څواک نه چې له کانونو او د ځمکې له تل نه حاصلېږي.

دا یوه ډېره ستره وړاندوینه ده. د دې معنا دا ده، چې د وروستي پیغمبر په لاس یو داسې دین استول شوی دی، چې د هغه د پیروانو لپاره د بې سپر یا بې وسلې کېدو هېڅ سوال نه پیدا کېږي. دوی به هغه مهال هم په بالقوه ډول په اعلیٰترین څواک سمبال وي، چې هر ډول ظاهري څواکونه یې له لاسونو وتلي وي. په دې چې د څواک راز د هغوی د دین په فکري او نظري صداقت کې دی. او هغه داسې شی دی، چې څوک یې له چا څخه اخیستلی نه شي.

دا وړاندوینه د اسلام د پیغمبر په ژوند کې په بشپړ حالت کې رښتیا شوه. د نبي کریم ص په ژبه الله تعالی هغه کلام جاري کړ، چې د لرغوني ابادي دنیا شاوخوا ټوله سیمه یې لاندې کړه. د الهي کلام دا څواک نن ورځ هم خپله معجزه ښودلی شي، په دې شرط چې د اسلام د پیغمبر امتي له دې څواک سره همداسې راپورته شي، په څه ډول چې مخکیني د دې څواک په مټ راپورته شوي وو. همدا حقیقت په یوه حدیث کې په دې ټکو کې بیان شوی دی: «**ان الله یرفع بهذا القرآن اقواما و یضع به آخرین**.» ژباړه: الله تعالی به په دې قرآن ځینې خلک سرلوړي کړي او ځینې خلک به په دې کتاب سرټیټي کړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د شرعي قانون حکمتونه

په اسلامي قانون کې د غله سزا دا ټاکل شوې ده، چې لاس یې باید غوڅ شي، تر څو په اینده کې خلک د ده له شر نه په امان شي او د دغه سړي د انجام په لیدو نور خلک پند ورنه واخلي.(مائده: ۳۸) په دې هکله ځینې خلک وایي، چې دا قانون بې‌رحمانه دی او که په یوه ټولنه کې په دې قانون عمل وشي، نو هلته به بې شمېره خلک بې لاسه شي او ټوله ټولنه به په یوه بې‌کاره ټولنه بدله شي. خو دا همداسې خبره ده، چې یو څوک ووایي، چې د طبي ساینس دا نظریه غلطه ده، چې کله د بدن یو غړی سپتیک (وروست) شي، نو سمدستي باید غوڅ شي. که د طبي ساینس د دې نظریې له عملي کېدو سره، سره ټول خلک بې لاسو او بې پښو نه دي، نو د غلا په هکله د اسلامي قانون له امله به خلک ولې بې لاسه کېږي.

دا مازې یوه فرضي خبره نه ده. د اسلام په ابتدایي زمانه کې چې کله دا قانون وضع شو، نو د نبوت له دور نه د راشده خلافت تر پایه پورې یوازې د شپږو کسانو لاسونه غوڅ شول او په ټول اسلامي قلمرو کې امن او امان رامنځته شو. په اوسنۍ زمانه کې په سعودي عرب کې دا قانون نافذ دی. خو کلونه، کلونه تېر وي او د یوه لاس د غوڅېدو نوبت هم نه راځي. وجه یې دا ده، چې یاد قانون په خپل ځان کې د غلا د مخنیوي خاصیت لري. د قطع ید د حکم معنا د لاس له غوڅېدو نه ډېره دا ده، چې په خلکو کې یوه وېره پیدا شي او هېڅ څوک د غلا کولو اصلاً جرأت ونه کړي. دا ګټه د اسلام په قانوني نظام کې پخوا هم حاصله شوې او نن ورځ هم حاصلېږي.

د ټولنې د بې‌کاره کولو نیوکه په ډېره سمه معنا اوسنیو قوانینو ته متوجه کېږي. په دې قوانینو کې د غلا لپاره د سپکې سزا له امله د مجرمینو مرال نه وژل کېږي. او پایله یې دا ده، چې د غلا پېښې زیاتې شي او بې شمېره خلک د غلا په جرم کې زندانونو ته واچول شي. په دې ډول زرګونه خلک له عملي ډګر نه وشړل شي او د ملت په اوږو باندې بوج شي. حال دا چې د شریعت له مخې د یو څو کسانو د لاس غوڅېدو له امله د ټل لپاره د ډاډ او امنیت فضا پیدا کېږي. خلک خپل ځان خوندي او مصؤن ویني. او نتیجه یې دا وي، چې په ټولنه کې کار او عمل زیات شي. څو کسانو ته چې سخته سزا ورکول شي، نو په ټولنه کې د ټل لپاره د امنیت احساس پیدا شي. دا تر دې بهتره ده، چې د څو خلکو په خاطر په یوه ټولنه کې د ټل لپاره د امنیت احساس له منځه یووړل شي.

د اروپا او امریکا حالاتو دا نظریه غلطه ثابته کړې ده، چې له مادي ډېربنت سره به غلا پخپله ختمه شي. په پرمختللو هېوادونو کې د غلا پېښې له پسمانده هېوادونو څخه کمې نه دي. یوازې بنې یې فرق سره لري. د

(c) ketabton.com: The Digital Library

پسمانده هېواد سړي د خپل کلي خان ته کمين نيولی وي او په امريکا کې بيا يو کس په بانک باندې برید کوي.

د قطع يد سزا نه يوازې ټولنې ته د امنيت ډاډ ورکوي، بلکې د يوه غله لاس پرې کول ګڼ خلک له دې انجام نه ژغوري، چې لاس او پښې يې په ډېرې بې رحمۍ سره غوڅې شي. غله او لوټماران چې کله د پيسو لوټلو ته راځي، نو يوازې مال نه ورسره لوټ کوي، بلکې د مال په خاوند باندې هم بريد کوي، چې کله نا کله يې ژوند هم ورنه اخلي او کله نا کله يې له هرې خوا وغورځوي. د دې معنا دا ده، چې که د غله لاسونه پرې نه شي، بيا به هم د ډېرو خلکو لاس او پښې غوڅېږي او په دې دوهم حالت کې به د غوڅېدو شمېر يقيناً د لومړي حالت په پرتله ډېر وي. هغسې چې د دنيا تجربو ښودلې ده.

د قطع يد د حکم معنا دا نه ده، چې بس د «غلا» پېښه وشوه او سمدستي دې د انسان لاس غوڅ شي. په انساني ژوند کې يوه پېښه د بې شمېره عواملو له مخې پېښېږي. د همدې لپاره د يوې ټاکلې پېښې په تړاو د قضاوت لپاره د ټولو اړخونو لحاظ اړين دی. تر دې چې د شريعت منشا دا ده، چې د يوه قاضي له لوري د مجرم په بښلو کې غلطي کول تر دې بهتره ده، چې په سزا ورکولو کې غلطي وکړي.

د غلا دوه لوی ډولونه دي. يو هغه چې د مجرمانه ذهنيت له مخې غلا کېږي. بل هغه چې د اړتيا له مخې کوم وخت پېښه شي. په دوهم ډول غلا به لاس نه پرې کېږي. مثلاً له لوږې نه په غلا باندې به د غله لاس نه غوڅېږي. دا راز پلار د زوی مال واخلي يا زوی د پلار

**بطرس بن بولس بستاني ماروني (۱۸۸۳ – ۱۸۱۹) د بستان عيسوي عالم و. نوموړی په عربي، سرياني، لاتيني، اټالوي، انګريزي، عبراني، يوناني ژبو پوهېده. په فلسفه، الهياتو، قانون، تاريخ، جغرافيه او حساب کې يې زدکړې وکړې. د امريکايي عيسويانو له يوې ډلې سره يې په ګډه تورات ترجمه کړ. د المدرسة الوطنيه په نوم يې يو ښوونځی جوړ کړ. دې مدرسې دومره مقبوليت وموند، چې د شام، مصر، استانبول، يونان او عراق زده کوونکي به هم د زدکړو لپاره دې مدرسې ته راتلل. نوموړي د قاموس المحيط په نوم په نوي اسلوب عربي قاموس وليکه. د قطر المحيط په نوم يې يو دايرة المعارف پيل کړ او شپږ جلدونه يې چاپ کړل، چې له دنيا نه يې سترګې پټې کړې. بيا يې زوی سليم اووم او اتم ټوک خپور کړ. د نهم جلد د ليکلو په وخت کې يې زوی هم مړ شو. له هغه وروسته يې نورو زامنو نهم ټوک بشپړ کړ. له هغه وروسته د بطرس بستاني ورور سليمان بستاني يې لسمه او يوولسمه برخه وليکله.**

**نسل په نسل د يوه کار د پرمخ وړلو دا طريقه د ياد کار د کاميابي تر ټولو لوی ضامن دی.**

(c) ketabton.com: The Digital Library

مـال واخـلي پـه دي بـه هـم نـه غـوښېږي. د نابـالغ او غیرعاقل لاس به هم نـه پـرې کېږي. دغـه راز نـور ډېـر حالتونه دي، چې د غلا له پېښـي سره، سره لاس پـه کـي نه غوڅېږي.

په اسلام کې چې انسان او د انسان «لاس» تـه څومره احترام دی، په بل هېڅ نظام کې یې تصور هـم نـه شي کېدی. مثلاً یو چا پـه ظالمانه ډول د یـوه بـل کـس لاس غوڅ کړ، نو لاس پرې شوي ته به د یوه انسان د وژلو نیم دیت (پنځوس اوښان) ورکول کېږي. د اسلام پیغمبر تـه یو ځل یو کلیوال سړی راغی. له ستړي مشي وروسته نبي کـریم ص د مصـافحې لپـاره لاس ور اوږد کـړ، نـو هغـه معذرت وغوښته او ویې ویل، چې د دروند کار له امله زما لاس سـخت او ځیـږ شـوی دی. نـو نبـي کـریم ص ور وراندې شو، د هغه لاس یې ښکل کړ او ویـې فرمایـل، «هغه لاس چې د زحمت په ګټه سخت شوی وي، الله او رسول ته ډېر زیات خوښ دی.»

---

# سیرت لیکنه

د اسلام د پیغمبر ص ژوند په دنیا کې تر ټولو ډېر هیښوونکی او تر ټولو بشپړ ژوند دی.

څو د سیرت په بې شمېره کتابونو سربېره، د نبي کریم د اصلي سیرت لیکلو کار لا هم پاتې دی. د سیرت په پخوانیو کتابونو کې د شعرونو، پې اساسه کیسو او غزواتو اړخ دومره غالب دی، چې د رسول ص اصل سیرت یې له سترګو پناه کړی دی. په وروستني دور کې چې د سیرت په موضوع کوم کتابونه ولیکل شوو، په هغو کې فقهي مسایلو، کلامي بحثونو، تعبیري زیاتونو اصل سیرت پناه کړی و. ځینې په دې هڅه کې دي، چې د سیرت په عنوان پاندې د اسلام دایرة المعارف مرتب کړي.

اړتیا ده، چې په سیرت پاندې یو داسې جامع کتاب ولیکل شي، چې فقط «سیرت» وي. د نبـي کـریم ص د ژوندانـه د پېښـو تـابلو وي. نـه د «مغازیو» داستان وي او نه یې باید په سـیرت پوري پـه نـامربوطو بحثونـو اوږې درنـې شـوې وي. دا یـو داسـې کـار دی، چـې ډېـره زیاتـه خواري او پراخه وسایل غواړي. څـو کـه داسـې کتاب ترتیب شي، نو دا به په اوسنۍ زمانه کې له لیکل شـویو زرګونـو کتـابونو څخـه ډېـر قیمتـي ثابت شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د اسلام پیغمبر

د اسلام د پیغمبر صلی الله علیه وسلم ژوند په دوو لویو دورو وېشلی شو. یو له نبوت نه دمخه دور. بل له نبوت نه وروسته دور. پیغمبر علیه السلام د خپل ژوند په دواړو دورو کې د خدای کامل بنده او په ټوله معنا د هغه په لور رجوع کوونکی لیده شي. له نبوت نه دمخه د نبي کریم ص عبدیت د حق د ربښتوني لټون په بڼه و او له نبوت نه وروسته د حق د ربښتوني پیروي په بڼه.

د اسلام پیغمبر حضرت محمد صلی الله علیه وسلم په ۲۲ اپریل، ۵۷۱ز کې د عربستان په خاوره نړۍ ته راغی او په ۸ جون، ۶۳۲ز کې یې له نړۍ نه سترګې پټې کړې. نبي کریم ص ډېر صحتمند او غښتلی انسان و. له کمکیني یې حال دا و، چې څا به ولیده، له خولې به یې ووتل «**ان لهذا الغلام لشأنا**» یانې دې بنده ته لوی شان او درجې ټاکلې دي. چې راستر شو، نو شخصیت یې نور هم څرګند او روښانه شو. چا به چې ولیده، تر تاثیر لاندې به یې راغی. له دې سره دومره نرم او شیرین ژبی و، چې یو چا به یو څو شېبې هم نیږدې ورسره تېرې کړې، مینه به یې ورسره پیدا شوه. زغم، ربښتینولي، د مسایلو فهم، ښه رویه د نبي کریم ص په ذات کې په کامله درجه کې راټول وو. لنډه دا چې نبي کریم ص د هغه انساني عروج تر ټولو غوره بېلګه و، چې د اروا‌پوهنې په ژبه کې یې په متوازن شخصیت **(Balanced Personality)** پېژني. د داؤد بن حصین قول دی، چې د عربو په منځ کې به عموما دا خبره اورېدل کېدله، چې محمد بن عبدالله په داسې شان راځوان شو، چې په خپل قوم کې تر ټولو ډېر با اخلاق، د ګاونډیو خبر اخیستونکی، حلیم او تېرېدونکی،

(c) ketabton.com: The Digital Library

صادق او امین، له جګړو ګوښه نیوونکی او له فحش خبرو او ښکنځلو ځان ساتونکی و. له همدې امله خپل قوم په نبي کریم ص باندې «**الامین**» نوم ایښی و. (خصائص کبری، لومړی ټوک، ۹۱ مخ)

په ۲۵ کلنۍ کې چې نبي کریم ص واده وکړ، نو په دې موقع کې یې تره ابوطالب د نکاح په خطبه کې ویلي و چې:

**«ان ابن اخی محمدا بن عبدالله لا یوزن به رجل الا رجح به شرفا و نبلا و فضلا و عقلا، وهو والله بعد هذا له نبأٌ عظیم و خطر جلیل.»**

**ژباړه: زما وراره محمد بن عبداللّٰه چې له هر چا سره مقایسه شي، په شرافت، نجابت، فضیلت او عقل کې به محمد ډېر ورځنې اوچت وي. په خدای قسم! د ده لپاره یو ستر راتلونکی لیکلی دی او بلندې رتبې ورته په تمه دي.**

ابو طالب دا توري په هغه معنا کې نه وو ویلي، چې وروسته تاریخ د حقیقت جامه ور واغوسته. هغه دا خبره مازې په دنیوي مفهوم کې کړې وه. د هغه مطلب دا و، چې د یوه انسان شخصیت چې دومره جذاب او راښکونکی وي، لکه د محمد بن عبدالله چې لیدل کېږي، هغه په هر حال کې په خپل قوم کې د درناوي مقام ته رسېږي او د دنیا په بازار کې ډېر لوړ قیمت ترلاسه کوي. د داسې انسان صلاحیتونه د هغه د پیشرفت او بریا یقیني ضامن وي.

د اسلام د پیغمبر لپاره دا فرصتونه بې له شکه په بشپړه معنا موجود وو او د خپلو صلاحیتونو په مټ یې ستر دنیوي قیمت ترلاسه کولی شوی. نبي کریم ص د مکې په یوه مخوره کورنۍ کې وزېږېده. سره له دې چې له خپل پلار نه په وراثت کې مازې یوه اوښه او خادمه ور پاتې وه، خو په خپلو غوره پیدایشي ځانګړنو یې د مکې تر ټولو شتمنه مېرمنه اغېزمنه کړه. په ۲۵ کلنۍ کې یې له هغې سره نکاح وشوه. دا ښځه د یوې سوداګرې کورنۍ کونډه وه. له هغې نه نبي کریم ص ته نه یوازې مال او شتمني په لاس ورغلل، بلکې په عرب او له عرب نه دباندې د سوداګرۍ زبردست ډګر هم په لاس ورغی. په دې ډول د پیغمبر علیه السلام لپاره د پرسکون او بریالي ژوند ټول فرصتونه اماده وو، خو نبي کریم ص دا هر څه پرېښودل او یو بل شی یې غوره کړ. نبي کریم ص پوهېده، چې خپل ځان ته یې داسې لاره غوره کړې ده، چې یوازې د دنیوي تباهۍ په لور غځېدلې ده. له خدیجې سره له نکاح نه مخکې به نبي کریم ص د خپل ژوند لپاره یو څه کار او روزګار هم وکړ. اوس یې هغه فرصت هم لاسه ووت او خپل ټول وجود یې هغه لټون ته ځانګړی کړ، چې له ماشومتوبه یې په لټه کې و، هغه دا چې حقیقت څه دی. نبي کریم ص به تر ډېره پورې ناست و او په ځمکې او اسمانونو کې به یې غور او فکر کاوه. د مکې په اشرافو کې د خپلو اړیکو د ټینګولو او د هغوی په ناستو کې د ځای پیدا کولو په ځای یې دښتې او غرونه خپل ملګري وګرځول. له مکې نه درې میله لرې یوه غرنۍ لړۍ ده، په هغې کې د یوه غره نوم حرا دی. نبي کریم ص به ډوډۍ او اوبه ورسره واخیستې او دې غره ته به یې مخه کړه. د غره په خاموش

(c) ketabton.com: The Digital Library

ماحول کې به يې د ژوند په حقيقت فکرونه کول. د ځمکې او آسمان خالق ته به يې لاسونه لپه کړي وو، چې اې زما ربه! ته خپل ځان پرما را ښکاره کړه. حقيقت څه دی، ته يې را وښيه. د اوبو کوزه به يې چې تشه شوه او ډوډۍ به يې ختمه شوه، نو کور ته به راستون شو، چې بېرته د اوبو او خوړو همداسې سامان ورسره واخلي او د قدرت هغه ماحول ته پناه ور وړي، چېرته چې صحرا او ونې وې، غرونه او د اسمان پرسکونه فضا وه. د نبي کريم ص ناقراره طبيعت په انساني غوغاوو کې د خپل سوال، ځواب ونه مونده. اوس يې د طبيعت خاموشه دنيا ځان سره همنشينه کړې وه، چې شايد د ده سوال ور ځواب کړي.

د ځواني له زور او ځواک نه سرشار انسان لپاره دغه ډول ژوند کومه معمولي خبره نه وه، بلکې د خوشالي لاره پرېښودل او د غم لاره نيول و. له ښځې او ماشومانو سره په ارامه ژوند تېرول، خپل تجارت ته وده ورکول او په ټولنه کې خپل ځای جوړول، د نبي کريم ص په وړاندې د دې ټولو فرصتونو دروازې وازې وې. خو د نبي کريم ص بې‌تابه او متلاشي طبيعت په دې شيانو باندې راضي کېدو ته اماده نه و. پيغمبر عليه السلام ته ټول شيان تر هغو پورې هېڅ ابسېدل، تر څو يې چې د ژوند راز نه وي معلوم کړی. نبي کريم ص غوښتل په دې پوه شي، چې له دې ظاهري شيانو پورته که کوم حقيقت شته، نو هغه څه دی. د ګېتې او تاوان او ارام او تکليف په اصطلاحاتو کې د فکر کولو په ځای نبي کريم ص به د دې سوال په حل کولو کې غرق و، چې حق څه دی او ناحق څه دی.

د پيغمبر عليه السلام د ژوند همدا هغه اړخ دی، چې په قرآن کريم کې په دې ټکو کې بيان شوی دی «**وَوَجَدَكَ ضَالاً فَهَدَى**» ژباړه: او لار نه پېژندونکی يې موندلی وې، نو لار يې دروښوده. د ضال معنا ده، لار ورکی، سرګردانه. (**ان النبی صلی الله عليه وسلم ضل فی شعاب مکة و هو صغير ثم رجع**.) دا کلمه د هغه مسافر لپاره کارېږي، چې په لاره کې خطا شوی وي او حيران و پرېشان بېلابېلو لارو ته ګوري او په دې نه پوهېږي، چې کوم لوري ته لاړ شي. د همدې لپاره هغې ونې ته **ضالة** ويل کېږي، چې په دښته کې تنها ولاړه وي او شاوخوا يې بله هېڅ ونه نه وي. له همدې ځايه ويل کېږي، چې **ضل الماء في اللبن** (اوبه په شيدو کې ورکې شوې) د آيت معنا دا ده، چې نبي کريم ص د جاهليت په دښته کې د تنها ونې په څېر ولاړ و. په دښتو او غرونو کې يې دا غم ورسره ګرځاوه، چې حقيقت څه دی، چې زه غاړه ورته کېږدم. د دنيا په رواجي چوکاټونو کې خپل ځان ته د مقام لټولو په ځای حيران او متفکر له ټولو تکې تنها يوې ګوښې ته وتلی و. له حقيقت نه په کم شي د نبي کريم ص د اروا د تسکين چاره نه کېدله. تر دې چې د حق لټوونې دغه سرګرداني يې دې ځای ته رسېدلې وه، چې ژوند ورته يو داسې بوج ګرځېدلی و، چې د ده مبارک ملا يې ور ماتوله. (الم نشرح)

(c) ketabton.com: The Digital Library

په دې وخت کې د الله رحمت ده ته متوجه شو. د هدایت او رڼا دروازې ورته وازې شوې. په ۱۲ فروري ٦۱۰ز کې چې د حرا په غار کې تنها ناست و، د خدای پرښته د انسان په صورت کې مخې ته ورته راغله او د خدای له لوري يې هغه کلمات ور وښودل، چې د قرآن کریم د ۹٦مې سورې په پیل کې راغلي دي. د ده مبارک لتون بلاخره خپل ځواب ترلاسه کړ. د پیغمبر علیه السلام د ناقرارۍ اروا رابطه له رب العالمین سره ټینګه شوه. خدای نه یوازې پیغمبر علیه السلام ته هدایت ورکړ، بلکې د خپل ځانګړي استازي په حیث یې انتخاب کړ. په ده مبارک د الهي کلام د نزول لړۍ پیل شوه. د نبي کریم ص د نبوت دغه موده په ۲۳ کلونو غوړېدلې ده. په دې موده کې د خدای کتاب (قرآن) په بشپړ ډول په ده مبارک نازل شو.

د اسلام پیغمبر د خپل سخت ژوند په ځلوښتم کال کې حقیقت پیدا کړ. خو دا حقیقت د نبي کریم ص لپاره کومه اسانه سودا نه وه. د دې رښتینولۍ معنا دا وه، چې انسان د یوه ستر خدای په ګرفت کې دی. دا حقیقت د خپل عجز په مقابله کې د خدای د لويي کشف و. دا حقیقت د خدای د اثبات په مقابل کې د خپل ځان د نفي درک کول و. په دې راز پوهېدل و، چې په دې دنیا کې د مؤمن بنده یوازې مسؤلیتونه در مسؤلیتونه دي او هېڅ ډول حق یې دلته نشته.

د حقیقت له کشف وروسته، د اسلام د پیغمبر لپاره د ژوند معنا څه وه. په دې خبره باندې د پوهېدو لپاره دلته یوازې یوه حدیث ته تم کېږو. نبي کریم ص یو ځل وفرمایل:

| | |
|---|---|
| «أمرني ربي بتسع: | **ژباړه: زما رب ماته د نهو خبرو امر کړی دی.** |
| خشية الله في السرِّ والعلانية، | **دا چې په پټه او ښکاره کې له خدایه ووېرېږم،** |
| و كلمة العدل في الغضب و الرِّضا، | **په غوسه یا خوشالي کې، تل د انصاف خبره وکړم،** |
| والقصد في الفقر والغِنى، | **په نېستي او شتمني دواړو حالتونو کې اعتدال ولرم** |
| و أن اصل من قطعني، | **هغه چاسره يې وپالم، چې له ما بېلېږي،** |
| و أعطى من حرمني، | **هغه چاته یې ورکړم، چې ما محروموي،** |
| وأعفو من ظلمني، | **هغه څوک وبښم، چې په ما ظلم کوي،** |
| وأن يكون صَمتي فكرًا، | **او زما چوپتیا باید د غور او فکر چوپتیا وي،** |
| ونطقي ذكرًا، | **زما غږېدا الهي ذکر وي،** |
| ونظري عبرًا» (رواه رزين) | **او زما لیدل د عبرت لیدل وي.** |

(c) ketabton.com: The Digital Library

دا مازې وینا یا د مجلس خبرې نه وې. دا د نبي کریم ص خپل ژوند و، چې د لفظونو جامه یې اغوستې ده. دا د حیرانتیا تر بریده مؤثرې خبرې او دومره ژورې ویناوې د یوه خالي انسان له خولې څخه نه شي راوتلای. دا الفاظ خو پخپله د ویونکي مقام څرګندوي. دا خبرې د ویونکي دروني کیفیت زموږ مخې ته ږدي. دا خبرې د لفظونو په هینداره کې د ویونکي له اروا نه پرده پورته کوي.

سره له دې چې د پیغمبر علیه السلام ژوند له نبوت دمخه هم همداسې و. خو په هغه زمانه کې یې ژوند او شخصیت په تووله کې د فطرت په رڼا کې و. خو د حقیقت په ترلاسي سره دې فطرت د شعور درجه خپله کړه او هغه شخصیت چې تر دې دمه د طبیعي رجحان له مخې رغېدلی و، اوس د یوه سنجیده ذهن ارادي برخه وګرځېده. دا د یوه بنده لپاره هغه مقام دی، چې دنیوي میلانونه دومره کم شي، چې یوازې د اړتیا کچې ته راټیټ شي. د انسان د ژوند سطحه له عامو انسانانو جدا رنګ واخلي او فزیکي وجود خو یې په همدې ظاهري دنیا کې وي، مګر له اروايي پلوه په یوه بله دنیا کې ورځې شپې سبا کوي.

د یوه روایت له مخې د اسلام پیغمبر ص وفرمایل:

**«وعلى العاقل ما لم یکن مغلوبا على عقله ان یکون له ساعات ساعة یناجي فیها ربه و ساعة یحاسب فیها نفسه و ساعة یتفکر فیها صنع الله و ساعة یخلو فیها لحاجته من المطعم والمشرب.»**

(و قال صحیح الاسناد عن ابی ذر الغفاری)

**ژباړه: عاقل انسان ته بویه چې پر ده یو څو ګړۍ تېرې شي؛ داسې ګړۍ چې له خپل څښتن تعالی سره راز او نیاز وکړي، داسې ګړۍ چې له خپل ځان سره محاسبه وکړي، داسې ګړۍ چې د خدای په مخلوقاتو کې غور او فکر وکړي، او داسې ګړۍ چې د خوړو او اوبو اړتیاوو ته وخت ورکړي.**

دا په دې معنا چې د خدای وفادار بنده هغه دی، چې د ورځې او شپې ګړۍ یې داسې تېرې شي، چې کله یې ناقراري خپل خدای ته دومره ورنیږدې کړي، چې له خپل رب سره د راز و نیاز مجلسونه وکړي. کله د یوم الحساب وېره داسې پرې خوره شي، چې په همدې دنیا کې ځان سره محاسبه پیل کړي. کله په کایناتو کې د خدای کاریګرۍ ته ځیر شي او دومره په کې محوه شي، چې په هر شي کې د خالق جلوې ورښکاره شي. داسې چې هره شېبه یې له خدای سره په ملاقات، ځان سره په ملاقات او کایناتو سره په ملاقات کې تېره شي او د اړتیا تر بریده یې د خوړو او اوبو لپاره هم د فراغت شېبې لټولې وي.

دا خبرې د ماضي د انسان تعارف نه دی. په دې کې پخپله د اسلام د پیغمبر شخصیت ګویا دی. له دې خبرو معلومېږي، چې د نبي کریم ص په ظاهري بدن کې هغه مؤمنه اروا وه، چې هر وخت به په کې څه ډول توپانونه راولاړ

(c) ketabton.com: The Digital Library

وو، د نبي کريم ص ژوند به په څه ډول د «ګړيو» په منځ کې تېرېده. حقيقت دا دی، چې يو شخص چې پخپله دا ګړۍ تجربه نه کړي، هغه هېڅ کله په دومره غوره پيرايه کې دا خبره نه شي بيانولی. دا د يوې داسې اروا له خوا وربدلي توري دي، چې دغه کيفيتونه يې پخپله په کمال درجه کې تجربه کړي وي، چې نورو ته يې د الفاظو په جامه کې وررسوي.

د اسلام پيغمبر ته، د الهي وحي له راتلو دمخه، اوسنی دنيا له خپلو نيمګړتياوو او محدوديتونو سره بې معنا په نظر ورتله. خو کله چې خدای له دې حقيقت نه پرده واړوله، چې له دې دنيا پرته يوه بله دنيا شته، چې بشپړه او دايم البقا ده او هماغه دنيا د انسان اصلي هستوګنه ده، نو ژوند او کاينات دواړه د نبي کريم ص لپاره بامعنا شول. اوس نبي کريم ص د ژوند هغه سطحه وموندله، چې هلته يې ژوند په کې کولی شوی، چې خپل زړه يې پرې بايللی شوی. ګواکې اوس نبي کريم ص يوه داسې حقيقي دنيا وموندله، چې خپلې هيلې او ارزوګانې ورپورې وتړي او د هماغه لپاره د خپل ژوند پلانګذاري وکړي.

همدا معنا ده د **الدنيا مزرعة الآخره** (دنيا د اخرت کښت دی). د دې احساس په سيوري کې چې کوم ژوند سر راهسکوي، هغه ته د نن ورځې په اصطلاح کې آخرت‌محوره ژوند (Akhirat Oriented Life) ويلی شو. دا ډول انسان، د خپل ژوندليد د حتمي پايلې په توګه، اخرت خپله اصلي مسئله ګوري. او له دې خبر وي، چې دنيا زموږ منزل نه دی. يوازې لاره ده. د اخرت د ابدي لپاره د چمتووالي ابتدايي پړاو دی. هغسې چې د دنياپرسته انسان ټول فعاليتونه د دنيوي مصلحتونو شاوخوا څرخېږي، په همدې ډول د خدای د يوه بنده د ټول ژوند لوری هم د اخرت خواته واوړي. په هره معامله کې د ده رويه د دې فکر له مخې سازېږي، چې په اخرت کې به يې انجام څه وي. خوښي وي يا غم، کاميابي وي يا ناکامي، د زيردستي حالت وي يا زور څواکي، ستاينه يې کېږي يا تنقيد، د غوسې موقع وي يا د مينې، په هر حال کې د اخرت فکر د انسان لارښود وي. تر دې چې په ده هغه وخت راځي، چې د اخرت فکر يې د لاشعور برخه وګرځي. سره له دې چې دی اوس هم له بشريت څخه خالي نه وي، خو ذهن يې په هماغو چارو کې بشکېل وي، چې په اخرت پورې تعلق نيسي. هغه خبرې چې د اخرت کوم اړخ ورکې نه وي، له هغو سره يې دلچسپي دومره کمه شي، چې څينې وختونه يې له خولې دا کلمه هم وځي، چې **انتم اعلم بامور دنيا کم** (د دنيا په کارونو تاسې تر ما بهتر پوهېږئ.)

دا حقيقت مازې د يوې علمي موندنې حيثيت نه لري. دې حقيقت ته له رسېدو وروسته انسان په بشپړه توګه په يوه بل انسان بدل شي. د دې بهترينه بېلګه پخپله د اسلام د پيغمبر ذات اقدس دی. د هغه مبارک د ژوند تر ټولو لوی سبق دا دی، چې تر څو د ژوند تېرولو سطحه بدله نه شي، د عمل سطحه نه شي بدلېدی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د اسلام پیغمبر چې کله دا حقیقت ومونده، نو همدا یې د ژوند تر ټولو لویه مسئله وګرځېده. هغه جنت چې رسول الله ص یې نورو ته زېري ورکول، د هغه تر ټولو لوی حریص رسول الله پخپله شو او هغه جهنم چې نور خلک یې ترې وېرول، له هغه نه پخپله رسول الله تر ټولو ډېر وېرېدونکی و. د رسول الله دغه دروني توپان به بار بار د دعا او استغفار په ژبه کې خپل ځان ښووه. د ده مبارک د ژوند سطحه له عامو انسانانو سره ځنګه مختلفه وه، د دې اندازه له څو پېښو کېدلی شي.

**«عن ام سلمة ان النَّبيُّ صلَّى الله عليه وسلَّم كان في بيتها، فدعى وصيفةً له أو لها فابطأت فاستبان الغضبُ في وجهِه، فقامت أمُّ سَلَمَةَ إلى الحجاب، فوجَدَت الوصيفةَ تلعَبُ و معه سواک فقال لولا خشيةَ القَودِ يوم القيامة لأوجَعْتُك بهذا السِّواكِ.»**

(الادب المفرد، باب قصاص العبد، صفحه ۲۹)

**ژباړه: ام سلمه بیانوي، چې نبي صلی اللّه علیه وسلم د دې کره و او د کور خادمې ته یې ور غږکړل. هغې په راتلو کې ځنډ وکړ، نو د رسول اللّه په څېره کې غوسه ښکاره شوه. ام سلمه د پردې خواته ورغله، ویې لیدل چې خادمه یې په لوبو کې لګیا ده. دې وخت کې د رسول اللّه ص په لاس کې مسواک و، او خادمې ته یې وفرمایل «که د قیامت د ورځې وېره راسره نه وای، نو په دې مسواک به مې وهلې وې.»**

د بدر په جګړه (۲هـ روژې میاشت) کې چې کوم خلک بندیان شول، هغه ټول د رسول الله ډېر سخت دښمنان وو. خو ده مبارک له هغو سره تر ټولو غوره برخورد وکړ. په دې بندیانو کې یو تن سهیل بن عمر و، چې اور ژبی خطیب و او په ټولو ناستو کې به یې د رسول الله ص په خلاف بې‌هوده ویناوې کولې. عمر فاروق رض نظر ورکړ، چې دا لاندې دوه ښاغونه دې یې وایستل شي، تر څو د راتلونکي لپاره یې د وینا ټوله جذبه سړه شي. د دې خبرې په اورېدو رسول الله ص وفرمایل، «خدای به د قیامت په ورځ زما څېره راخرابه کړي، سره له دې چې زه د خدای رسول یم.»

د اسلام پیغمبر د عامو انسانانو په څېر انسان و. د خوشحالي په خبره به یې خوشحالي احساسوله او د غم په خبره به غجمن شو. خو د خپل بندګي احساس دې ته نه پرېښوده، چې د خدای له ټاکلې دایرې دباندې ووځي.

په وروستي عمر کې د پیغمبر علیه السلام له ماریه قبطیه نه یو زوی پیدا شو. دا هلک ښکلی او غښتلی ماشوم و. او نبي کریم ص د خپل تر ټولو مشر او مبارک نیکه ابراهیم نوم پرې کېښووه. ابو رافع چې کله د ابراهیم د زوکړې زېری ورکړ، نو نبي کریم ص دومره خوشاله شو، چې ابو رافع ته یې په انعام کې یو غلام ورکړ. نبي کریم ص به ابراهیم په غېږه کې ور پورته کړ، خواږه به یې ورکول او مینه به یې ورسره کوله. د عرب له دستور سره سم، ابراهیم د ام برده بنت

(c) ketabton.com: The Digital Library

المنذر بن زید انصاري په نوم یوې داینې ته وسپارل شوه، تر څو هغه شیدې ورکړي. ام برده د یوه اهنګر ښځه وه او په تنګ کور کې به یې زیاتره وختونه د بټۍ لوګي بادېدل. نبي کریم ص به د زوی لیدو ته اکثر د اهنګر کور ته ورتـه او هلته به یې په مبارکو سترګو او پوزه کې لوګي ننوتل او سره له دې چې د پیغمبر علیه السلام طبعه ډېره نازکه وه، بیا بـه یې هم دا لوګي زغمل. ابراهیم د یو نیم کالو و، چې د هجرت په لسم کال (جنوري ٦٣٢) کې وفات شو. نبي کریم ص د زوی په مړینه په ژړا شو.

په دې پېښو کې د اسلام پیغمبر د یوه عام انسان په څېر تر سترګو کېږي. د ده مبارک جذبات او ارمانونه د یوه عام پلار غوندې و. خو له دې سره، سره یې له ګوتو نه د خدای لمنه نه ښویېده. دی مبارک د غم په حالت کې و، خو له خولې یې دا توري وتل:

«والله یا ابراهیم انا بفراقک لمحزونون، تبکی العـین و یحـزن القلـب ولا نقـول مایسـخط الرب.»

**ژباړه: په خدای قسم، اې ابراهیمه! ستا په بېلتـون ډېر زیات غمجن یو، سترګې مو ژاړي او زړه مو په ویر کې دی، خو موږ به داسې خبره ونه وکړو، چې رب ته ناخوښه وي.**

په کومه ورځ چې ابراهیم وفات شو. تصادفاً په همدې ورځ لمر هم تندر ونیوه. په پخوا زمانو کې بـاور دا و، چـې د لمـر او سپوږمۍ تندر نیونه د یوه لوی انسان په مړینه واقع کېږي. د دې باور له مخې پـه مدینـه کـې د مسلمانانو خـولې تـه دا خبره ولوېده، چې د لمر تندر نیونه د پیغمبر علیه السلام د زوی د مړینې له امله پېښـه شـوې ده. نبـي کـریم ص دا خـبره ډېره زیاته بده ومنله، په دې چې دا د انسان د عاجزانه حیثیت خلاف و. بیا یې خلک راټول کړل، وینا یې وکـړه او ویـې فرمایل:

«ان الشمس والقرم لایخسفان لموت احد من النـاس ولکنهمـا آیتـان مـن آیـات الله، فـاذا رأیتموها فصلوا.»

**ژباړه: لمر او سپوږمۍ د انسان د مړینې له امله تنـدر نه نیسي، بلکې دا خـو د اللّه تعـالی د قـدرت دوه نښانې دي. چې کله مو دا نښانې ولیدې، نو لمـونځ وکړئ.**

په مدینه کې منظم اسلامي حکومت په پښو درېدلی و او نبي صلی الله علیه وسلم د دې حکومت په رأس کې و. په دې زمانه کې یې یو ځل اړتیا شوه، چې له یوه یهودي نه پور واخلي، چې نوم یې زید بن سعنه و. د پـور د ورکـړې لپـاره یـې موده ټاکلې وه، خو څو ورځې پاتې وې، چې یهودي په خپل پور پسې راغی. یهودي د نبي کریم ص د اوږې څادر لرې

(c) ketabton.com: The Digital Library

کړ او له کميسه يې ونيوه او په سخته ژبه يې وويل، «زما پور راکړه.» بيا يې پسې وويل، «د عبدالمطلب اولاده ډېره بې وعدې ده.»

په دې وخت کې حضرت عمر رض هم ناست و. د يهودي په دې بداخلاقي ډېر زيات غوسه شو. هغه ته يې څو خبرې وکړې. نيږدې وه، چې وهلو ته پسې ورپورته شي. خو نبي کريم ص يوازې ورته خندل او يهودي ته يې فقط دومره وويل، چې په وعده کې خو درې ورځې پاتې دي (**لقد بقی من اجله ثلاث**) بيا يې عمر فاروق رض ته وفرمايل:

**«انا و هو کنا الی غير هذا منک احوج يا عمر، تأمرنی بحسن القضاء و تأمره بحسن التقاضي.»**

(رواه البيهقي مفصلاً)

**ژباړه: عمره! ما او دې يهودي له تانه تر دې زيات يوه بل برخورد ته ډېره اړتيا لرله، تا بــه ماتــه د غـــوره ادايني ويلي و او ده ته به دې په ښه ډول د غوښتلو امر کړی و.**

بيا يې حضرت عمر فاروق رض ته وفرمايل، چې ورشه له فلاني سړي نه کجورې واخلي او د دې پور ور پرې کړه. او شل صاع (شاوخوا څلوېښت کيلو) کجورې زياتې ورکړه، ځکه تا رټلی او غندلی و.

پيغمبر عليه السلام په خپل ژوند کې ولې دومره بريا ترلاسه کړه، چې له عربستان نه تر فلسطينه پورې د ټولې سيمې واکمن شو. د الله د رسول په صفت د نبي کريم ص ژبې د قانون درجه لرله. نبي کريم ص به د داسې خلکو په منځ کې اوسېده، چې ده مبارک ته يې دومره عقيدت او درناوی درلوده، چې هېڅ کله د يوه انسان دومره عزت او درناوی نه دی شوی. د حديبيې د خبرو اترو په وخت کې عروه بن مسعود د قريشو د سفير په حيث راغلی و، هغه د دې په ليدو هک حيران پاتې شو، چې نبي کريم ص چې اودس کوي، نو صحابه له ده مبارک نه په پاته شويو اوبو منډې ور وهي، تـه وا سره جنګ به يې شي، او د تبرک په ډول يې په خپل ځان موښي. انس رضي الله عنه وايي، چې په ډېرې شديدې مينې سربېره، موږ په ډک زړه نبي کريم ص ته نه شو کتلی. مغيره وايي، چې کله به کوم صحابي د نبي کريم ص کور تـه ورغی او د دروازې ټکولو ته به يې اړتيا شوه، نو دروازه به يې په خپلو نکانو ټکوله. جابر بن سمره وايي، چې نبي کريم صلی الله عليه وسلم سور څادر په ځان غوړولی و او د سپوږمۍ رڼا ته ويده و. ما به کله سپوږمۍ تـه کتـل، کلـه پيغمبر عليه السلام ته؛ خو بلاخره مې همدا پرېکړه وکړه، چې پيغمبر عليه السلام لـه سپوږمۍ نـه ډېـر ښکلی او حسين دی، (**فاذا هو احسن عندي من القمر**). په حنين کې چې د جګړې په پيـل کـې د مسلمانانو لښکر لـه ماتې سره مخ شو او مخالف پوځ په نبي کريم ص باندې د غشيو باران جوړ کړ، نو د نبي کريم ص ملګري له ده مبارک نه راتاو شوو، او پـه خپل لاس او بدن يې د ټولو غشو مخه په دې ډول نيوله، ته وا، دوی انسانان نه دي، د لرګي نه پيدا دي. حتی د ځينو ملګرو يې دا حال شو، چې په وجود باندې يې د زيرګي په څېر غشي ښتي و.

(c) ketabton.com: The Digital Library

دا ډول مرتبه او عقیدت د انسان مزاج ورانوي او انسان ته خپل ځان تر نورو غوره په نظر ورځي. خو نبي کریم ص بـه د خلکو په منځ کې بالکل د عامو انسانانو په څېر اوسېده. هېڅ ترخه نیوکه یا پاروونکی برخورد داسې نه ثابتېده، چې نبي کریم ص دې له خپل اصل شخصیت نه واړولی شي. په صحیحینو کې راځي، چې له حضرت انس رض نه روایت دی، چې یو کوچی عرب راغی. او د رسول الله ص څادر یې دومره په زوره کش کړ، چې د ده په مبارک په غاړه کې یې نښان ولوېده. بیا یې وویل، «محمده! زما دا دوه اوښان دي. د هغو د بار په اندازه سامان راکړه، ځکه کوم مال چې له تا سره دی، هغه نه ستا دی، او نه ستا د پلار دی.» نبي کریم ص وفرمایل «مال خو د خدای دی او زه د هغه بنده یـم.» بیـا یې له کوچي نه پوښتنه وکړه، چې «تا چې له ماسره کومه رویه وکړه، د هغې په سر وېره نه لرې؟» هغه وویل، نـه. نبي کریم ص وپوښتل، ولې؟ هغه ځواب ورکړ، ماته معلومه ده، چې ته د بدي ځواب په بدي سره نه ورکوې. پـه دې خبره نبي کریم ص په خندا شو او امر یې وکړ، چې کوچي ته دې یو بار اوربشې، او یو بار کجورې ورکول شي.

په نبي پاک صلی الله علیه وسلم به د خدای هیبت او وېره داسې خپره وه، چې بالکل د عجز او بندګي یو مجسم تصویر به ګرځېدلی و. ډېر کم به غږېده، چې روان به و، ځُم شوی به روان و. په تنقید هېڅ کله نه خفه کېده. چې جامې به یې اغوستې، نو فرمایل به یې، چې زه د خدای بنده یم او د بندګانو غوندې جامې اغوندم (**انما انا عبدا لبس کما یلبس العبد**) چې ډوډۍ به یې خوړله، نو په ډېر ادب به ورته ناست و او فرمایل به یې چې زه د بندګانو غوندې خـواړه خـورم. (**انا اکل کما یاکل العبد**.)

په دې معامله کې د نبي کریم ص د احساس نزاکت دومره زیات و، چې یـو ځـل یـوه صـحابي ورتـه وویـل، **ماشاءالله و ماشئت** (څه چې الله غواړي او څه چې ته غواړې) د دې خبرې په اورېدو د رسـول الله ص د مبـارکې څېـرې رنګ بـدل شو، او په سخته ژبه یې وویل، **اجعلتنی لله ندأ** (زه دې له خدای سره برابر کړم؟) ته باید داسې ووایې، ماشاءالله وحده (هغه څه به کېږي، چې الله یې وغواړي). دغه راز یوه صحابي په خپله وینا کې وویـل، «**من یطع الله و رسوله فقد رشد ومن یعصمهما فقد غوی**» نبي کریم ص د دې خبرې په اورېد وویل، **بئس خطیب القوم انت** (ته د خپل قوم ډېر بد واعظ یې) نبي کریم ص دا خوښ نه کړل، چې الله او رسول دواړه دې د تثنیې په یوه ضمیر (هُمَا) کې یو ځای یاد شي.

د پیغمبر علیه السلام کره درې زامن پیدا شول او درې واړه په ماشومتوب کې له دې نړۍ نه سترګې پټـې کـړې. څلور لوڼې یې لوی عمر ته ورسېدې. څلور واړه د حضرت خدیجې رضي الله عنها له بطن نه وې. حضرت فاطمه رض یـې تـر ټولو کشره لورکۍ وه. نبي کریم ص له حضرت فاطمې سره بې بها مینه لرلـه. لـه سفر نـه بـه چې راستـون شو، نـو پـه جوماټ کې به یې دوه رکعته لمونځ وکړ او لومړی به سیده د حضرت فاطمې رض کور ته ورغی. د هغې لاس او تندی بـه

(c) ketabton.com: The Digital Library

یې ښکل کړل. حضرت عائشې رض نه جمیع بن عمیر صحابي وپوښتل، نبي کریم صلی الله علیه وسلم ته ټولو ډېر گران څوک و؟ هغې ځواب ورکړ «فاطمه رض».

خو د اسلام د پیغمبر ټول ژوند د اخرت په رنگ رنگېدلی و، نو د همدې لپاره له اولاد سره د مینې مفهوم هم د رسول الله لپاره یو بل څه و. په یوه روایت کې چې له نسائي پرته په ټولو صحاح کتابونو کې نقل شوی دی، راغلي دي، چې علي مرتضی رض یو ځل ابن عبدالواحد ته وفرمایل، ایا زه درته د فاطمه بنت رسول ص یوه خبره وکړم، چې اهل بیت کې نبي کریم صلی الله علیه وسلم ته تر ټولو ډېره گرانه وه؟ ابن عبدالواحد وویل، هو.

حضرت علی رض وویل، د فاطمې دا حال و، چې مېچنه به یې تاووله او لاسونه به یې تڼاکي شول. د اوبو منگي به یې پورته کول او په غاړه کې یې ښبان لوېدلی و. غولي به یې جارو کول، نو کالي به یې خیرن شول. په دې ورځو کې نبي صلی الله علیه وسلم ته ځینې خادمان راغلل. ما فاطمې ته وویل، چې خپل پلار ته ورشه او د ځان لپاره یو خادم ورنه وغواړه. فاطمه رض ورغله. خو هلته ډېره گڼه گوڼه وه او لیدنه یې ونه شوه. بله ورځ نبي صلی الله علیه وسلم زمونږ کور ته راغی او پوښتنه یې وکړه، چې پرون دې څه کار و. فاطمه غلې شوه. ما حال ورته ووایه او دا مې هم ورته وویل، چې فاطمه زما په خوله درغلې وه. نبي صلی الله علیه وسلم زما خبرې واورېدې او بیا یې وفرمایل:

**«اتقی الله یا فاطمة و ادّی فریضة ربک واعمل عمل اهلکِ، و اذا اخذت مضجعک فسبحی ثلثا و ثلاثین و احمدی ثلاثا و ثلاثین و کبری اربعا و ثلاثین، فذلک مائة، هی خیرلک من خادم.»**

**ژباړه: اې فاطمې! له خدای نه ووېرېږه. د خپل رب فرایض ادا کړه، د خپل عیال کارونه وکړه. چې کله د خوب ځای ته لاړه شې، نو ۳۳ ځله د خدای تسبیح ووایه، ۳۳ ځله د خدای حمد ووایه، ۳۴ ځله د خدای تکبیر ووایه. دا ټول سل شول. دا ستا لپاره له خادم نه ډېر غوره دی.**

حضرت فاطمه رض د دې خبرې په اورېدو وویل **رضیت عن الله و عن رسوله** (زه له خدای او د هغه له رسول نه راضي یمه.) حضرت علي رض وایي، چې نبي صلی الله علیه وسلم بس دا ځواب ورکړ او فاطمې ته یې خادم ور نه کړ. (**ولم یخدمها**)

د اسلام پیغمبر ته دا حقیقت روښانه شوی و، چې دا دنیا بې خدایه نه ده. دا دنیا یو خدای لري او هماغه د دې دنیا خالق او مالک دی. ټول انسانان د هغه بندگان دي او د هغه په مخکې ځوابگوی دي. له مرگ نه وروسته انسان له

(c) ketabton.com: The Digital Library

منځه نه ځي، بلکې په یوه بله دنیا کې د خپل تلپاتي ژوند پیلولو ته ورځي. هلته د نېکو خلکو لپاره د جنت ارامتیا ده او د بدو خلکو لپاره د جهنم لمبور اورونه دي.

خدای چې کله نبي کریم ص ته د دې حقیقت علم ورکړ، نو دا امر یې هم ورته وکړ، چې ټول انسانان له دې حقیقت نه خبر کړه. د مکې په غاړه د صفا په نوم یوه غونډۍ وه، چې په هغه زمانه کې به د ولسي جرګو لپاره د طبیعي دریځ په توګه کارېدله. نبي کریم ص د صفا غونډۍ ته وخوت او خلکو ته یې غږ کړل. خلک راټول شول او نبي کریم ص وینا ورته وکړه. د خدای د عظمت او لویي له بیانولو وروسته یې وفرمایل:

**«والله لتموتن کما تنامون و لتحیون کما تستیقظون و انها لجنة ابداً او لنار ابداً.»**

**ژباړه: په خدای قسم! تاسې ټول به مرئ، هغسې چې تاسې ویده کېږئ او بېرته به راژوندي کېږئ، لکه له خوبه چې راویښېږئ. له هغه وروسته یا د تل لپاره جنت دی یا د تل لپاره اور.**

د زمانې خلاف یوه تګلاره چې انسان یوازې په خپل سر غوره کړي، نو سره له دې چې په دې حالت کې یې هم ګام په ګام ستونزې مخه نیسي، خو دا ستونزې د ظلم او تېري تر حده نه وي. دا ستونزې د انسان جذباتو ته صدمه رسوي، خو د انسان جسم نه ټپي کوي. دا ستونزې تر ډېره د انسان لپاره د یوه خاموش صبر امتحان وي. مګر هغه وخت وضعیت په بشپړ ډول بدل شي، چې کله انسان د زمانې په خلاف د یوه اواز د داعي په حیث راپورته شي، چې کله انسان نورو ته دا خبرې پیل کړي، چې دا وکړئ او دا مه کوئ. د اسلام پیغمبر مازې یو مؤمن بنده نه و، بلکې تر نورو انسانانو پورې د الهي پیغام د رسولو دنده هم ور له غاړې شوې وه.

همدې وروستي حیثیت ټول عرب قوم له نبي کریم ص سره لاس او ګرېوان کړ. له نهارو ورځو شپو نه د جنګ له سخت‌ترینو حالاتو سره مخ شو. خو په ټول ۲۳ کلن ژوند کې نبي کریم ص له هېڅ اړخه هم د انصاف او تقوا لمنه پرې نه ښودله. د دې وجه دا نه وه، چې په نبي کریم ص کې انساني جذبات نه و، اصل دا دی، چې د خدای وېرې نبي کریم ص په یوه پابند انسان بدل کړی و.

د هجرت په دریم کال د مکې مخالفینو مدینې ته مخه کړه او هغه جګړه پېښه شوه، چې د احد غزوه بلل کېږي. په دې جګړه کې په پیل کې مسلمانانو فتحه وکړه. خو وروسته د نبي کریم ص د ځینو ملګرو د تېروتنې له امله دښمنانو ته فرصت په ګوتو ورغی او هغوی له شا نه یرغل وکړ او د جنګ نقشه یې بدله کړه. دا ډېر وېروونکی منظر و. د نبي کریم ص زیاتره ملګرو د جنګ له میدان نه تېښتې ته مخه کړه، تر دې چې نبي کریم ص د وسله والو دښمنانو په لومه کې تنها پاتې شو. مخالف لښکر د وړي لېوه غونډې په نبي کریم ص باندې راروان و. نبي کریم ص خپلو ملګرو ته اواز وکړ

(c) ketabton.com: The Digital Library

**الیّ عباد الله** (د خدای بندګانو! ماته راشئ.) **من رجلٌ یشری لنا نفسه** (څوک دی، چې زموږ لپاره خپل ځان قربان کړي) څوک دی، چې دا ظالمان له مانه وشړي، هغه به په جنت کې زما ملګری وي. **(مسلم)**

دا به څومره وېرووونکې شېبه وه، چې د خدای د رسول له خولې نه دا ډول الفاظ راوتل. سره له دې چې په دې وخت کې ځینو ملګرو د نبي کریم ص اواز ته لبیک وویل. خو په دې وخت کې دومره ګډوډي جوړه وه، چې ډېر زیات سرښندونکي ملګري یې هم په دې ونه توانېدل، چې نبي کریم ص په بشپړه توګه وژغوري. عتبه بن ابی وقاص د نبي کریم ص په لور تیږه وار کړه، د تیږې وار دومره زورور و، چې د ده مبارک شونډه پرې شوه او د لاندې غاښونه یې شهیدان شول. عبدالله ابن قمیه د قریشو مشهور پهلوان و. هغه پر نبي کریم ص ډېره شدیده حمله وکړه، چې د اوسپنیزې خولۍ دوه کړۍ د نبي کریم په مخ مبارک کې ننوتې. دا کړۍ دومره ژورې ننوتلې وې، چې ابو عبیده بن الجراح یې چې کله د راویستو لپاره کړۍ په غاښونو کې ونیولې او راکش یې کړې، نو دوه غاښونه یې ورسره ووتل. یو بل کس عبدالله بن شهاب زهري په پیغمبر علیه السلام د تیږې وار وکړ، چې تندی مبارک یې ټپي شو. د پرلپسې وینې بهېدو له امله نبي کریم ص ډېر زیات کمزوری شو. تر دې چې په یوه کنده کې ولوېده. په میدان کې چې نبي کریم ص تر ډېره ونه لیدل شو، نو افواه خپره شوه، چې نبي کریم ص شهید شوی دی. په دې وخت کې د یوه صحابي سترګې په کنده ولګېدې، هغه د نبي کریم ص په لیدو له خوشالۍ چیغه کړه، «رسول الله دلته دی.» خو نبي کریم ص د ګوتې په اشارې منع کړ، چې غلی اوسه، او دښمنان زما له موقعیت نه مه خبروه. (**فاشار الیه الرسول ان صمت، نور الیقین فی سیرة المرسلین، محمد الخضری، ۱۳۰ مخ**) په دې بوږنوونکو حالاتو کې د نبي کریم له خولې د قریشو د ځینو سردارانو (صفوان، سهیل، حارث) لپاره د ښېرا الفاظ ووتل. نبي کریم ص وفرمایل، **کیف یفلح القوم شجوا نبیهم** (هغه قوم به څنګه بریالی شي، چې خپل نبي ټپي کړي) د نبي کریم ص له خولې مازې دومره خبره هم د الله تعالی خوښه نه شوه. او جبریل علیه السلام د خدای له لوري له وحي سره ورته راغی:

**لَيْسَ لَكَ مِنَ الأَمْرِ شَيْءٌ أَوْ يَتُوبَ عَلَيْهِمْ أَوْ يُعَذَّبَهُمْ فَإِنَّهُمْ ظَالِمُونَ** (آل عمران: ۱۲۸)

**ژباړه: د دې کار هېڅ شی تا پورې اړه نه لري، یا به یې (اللّه) توبه قبلوي، یا به یې په عذابوي، ځکه چې دوی ظالمان دي.**

د خدای له لوري همدومره تنبیه کافي وه. سمدستي یې غوسه سړه شوه. دی مبارک له ټپونو بې حاله و. خو د ظالمانو په حق کې یې د هدایت دعا کوله. د نبي کریم ص یو ملګری عبدالله بن مسعود رض وایي «داسې لکه اوس هم چې نبي صلی الله علیه وسلم زما په مخکې وي. دی مبارک له خپل تندي وینې وچوي او دا وایي:

**«رب اغفرلی قومی فانهم لا یعلمون.»**

**ژباړه: اې خدایه! زما قوم ته وبښه، ځکه دوی نه پوهېږي.**

(مسلم، غزوه احد، ۲ جلد، ۱۰۸ مخ)

(c) ketabton.com: The Digital Library

پورته ګڼ شمېر پېښې يادې شوې، دا ډول پېښې له هغو بې شمېره پېښو څخه دي، چې د حديث او سيرت کتابونه ورباندې ډک دي. دا واقعات راته ښيي، چې د رسول الله صلی الله عليه وسلم ژوند په څه ډول د انساني کردار معياري نمونه و. دا واقعات د عمل په ژبه کې دا سبق راکوي، چې انسان د خدای بنده دی او په هر حال کې بايد د خدای بنده غوندې ژوند وکړي. د خدای او بنده ترمنځ د تعلق تقاضا ده، چې د بنده په زړه کې هره شيبه د خدای او د آخرت توپان په څپو وي، ټول کاينات د هغه لپاره د الهي ذکر دسترخوان وي. هره پېښه د خدای له ليده وګوري او په هر شي کې خدايي نښه ومومي. په دنيا کې د هرې معاملې په وخت کې دا هېر نه کړي، چې بلاخره ټول معاملات به يوه ورځ د خدای لاسونو ته رسېږي. د جهنم وېره يې دې ته مجبور کړي، چې له انسانانو سره عاجزي وکړي او د جنت شوق يې دا دنيا په سترګو کې بې حقيقته کړي. د خدای د لويي احساس يې په ذهن داسې خپور وي، چې د خپلې لويي هر ډول څرګندونه رشخند او عبث ورته ښکاره شي. هېڅ تنقيد يې ونه پاروي او هېڅ ستاينه يې د ذهن د خرابولو باعث نه شي. دا ده د انساني کردار هغه نمونه چې د خدای رسول په خپل عمل سره موږ ته ښودلې ده.

---

## ژوند څه دی؟

د مرګ په لور سفر دی. هر انسان د خپلو سترګو په وړاندې د نورو خلکو مرګويني. خو پخپله بيا داسې ژوند کوي، ته وا، دی پخپله هېڅ کله نه مري.

که کومه رصدخانه يوه ورځ دا معلومه کړي، چې د ځمکې د جاذبې قوه ختمه شوې ده، نو په سبا ورځ به دا مونږ د ټولو اخبارونو سرټکی وي. په دې چې دا ډول خبر د ځمکې لپاره د مرګ د سفر په معنا دی.

د دې معنا دا ده، چې د ځمکې کره به په يوه ساعت کې په شپږ زره ميله سرعت سره د لمر لورې ته حرکت پيل کړي او په څو اوونيو کې به له خپل ځان نه د دوولس سوه زره چنده لوی لمر په ګېډه کې داسې وغورځي، لکه د دنيا په تر ټولو ستر اورغورځوونکي کې چې يوه وړه خاشه لوېږي.

د ځمکې لپاره د مرګ د سفر خبر که نن په کومه ورځپانه کې خپور شي، نو په ټوله دنيا کې به لويه غوغا جوړه شي. له موږ نه هر يو له دې نه د ډېر خطرناک سفر مسافر دی. خو هېڅ څوک نشته، چې غوږونه يې ورته ګک شي او د خپل ژوند په راتلونکو مراحلو کې له تباه کېدو نه د ځان ژغورنې فکر وکړي.

تر ټولو لويه مسئله د «مرګ» مسئله ده. خو خلک د «ژوند» په مسايلو کې داسې ښکېل دي، چې له هېڅ چا سره د مرګ په مسئلې باندې د فکر کولو فرصت نشته.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# اسلامي تاریخ: یوه مطالعه

د نبیانو دعوت یو و. خو د هغوی تاریخونه سره مختلف و. د دې وجه دا ده، چې دعوت به څه وي، د دې تعلق یوازې په داعي پورې دی. خو د تاریخ تعلق بیا په داعي (دعوت کوونکی) او مدعو (چاته چې دعوت ورکول کېږي) دواړو پورې دی. ټولو نبیانو ته د خدای له لورې یو دین ورکول شوی و او هر پیغمبر له هماغه یوه دعوت سره تل د خپلو مخاطبو قومونو مخې ته درېدلی دی. خو د مدعو قومونو عکس العمل به مختلف و، نو ځکه د هغوی په تړاو چې کوم تاریخ جوړ شو، هغه هم یو شان نه شوی کېدی.

حضرت ابراهیم علیه السلام په خپل وطن عراق کې ملګري پیدا نه کړل، نو ده مبارک له خپل وراره او خپلې مېرمنې سره یوې غیر ابادې سیمې ته مخه کړه تر څو هلته د توحید یوه عبادت‌خانه اباده کړي. د حضرت یوسف علیه السلام له شخصیت او د خوب له تعبیرولو نه د مصر پاچا متاثره شو. په دې ډول یې فرصت ومونده، چې د پاچا تر لاس لاندې ملکي چارې سمبال کړي. حضرت موسی علیه السلام چې له مصر نه راووت، نو د یوه پوره قوم (بني اسرائیل) مشري په لاس ورغله. موسی ع د سینا صحرا په ازاده فضا کې د الهي قوانینو په بنسټ یوه ټولنه جوړه کړه. حضرت مسیح علیه السلام په دعوتي پړاو کې د فلسطین له رومي اقتدار سره کشمکش پیدا کول د مصحلت خلاف ولیدل، ځکه یې خپلو شاګردانو ته نصیحت وکړ، چې «څه چې د خدای دي، هغه خدای ته ورکړئ، څه چې د قیصر دي، هغه قیصر ته ورکړئ.»

(c) ketabton.com: The Digital Library

د نبي کريم صلی الله عليه وسلم دعوت هم د هماغه دين په لور و، چې نورو انبياوو راوړی و. خو د پيغمبر عليه السلام قوم که له يوې خوا شديد مخالفت وکړ، نو بلې خوا ته يې د قوم له منځه د اعلی درجې زرګونه ملګري هم وموندل. پيغمبر عليه السلام د خپل قوم د متشددانه فعاليتونو په خلاف خپل ملګري منظم کړل او په دې مقابله کې د الله تعالی په مرسته پيغمبر عليه السلام بريا حاصله کړه او د اسلام اقتدار رامنځته شو.

په اسلامي غزواتو کې د خدای د دښمنانو وژل کېدل د اسلامي تاريخي هماغسې يوه اضافي برخه وه، په څه ډول چې تر دې وړاندې د حضرت يحيی او اصحاب الاخدود وژل کېدل يو اضافي جز و. خو په وروسته دور کې چې کله د اسلام تاريخونه وليکل شوو، نو د جنګ او مقابلې اړخ په دې تاريخ باندې غالب شو، په دې چې د پخواني ذوق له مخې د اسلامي بهير غيرسياسي اړخونه ډېر کم وليکل شوو. البته د قتال او سياسي مبارزو پېښې ډېر په شد او مد سره بيانې شوې. په دې ډول د اسلام مدون تاريخ له عملي پلوه د مغازي او فتوحاتو يو داستان وګرځېده.

که داسې شوي وای، چې د عرب ټاپووزمې سرداران، د حضرت يوسف عليه السلام د هممهاله مصري واکمن په څېر په پيل کې لا له اسلام نه متاثره شوي وای يا د سبا د ملکې په څېر رومي واکمن اسلام قبول کړی وای، نو د اسلام تاريخ به په بشپړه توګه بل راز وای. له دې نه يې سنجولی شو، چې له تاريخ نه عقيده اخذ کول ولې صحيح نه دي. د دغسې کوشش نتيجه به دا وي، چې د حضرت يوسف عليه السلام منونکي به وايي، چې پيغمبرانه تګلاره دا ده، چې د وخت له واکمن څخه په صافو ټکو کې غوښتنه وشي، چې، **اجعل لی علی خزائن الارض** (د ځمکې خزانې ماته را وسپاره). د حضرت مسيح منونکي به وايي، چې سمه تګلاره دا ده، چې د وخت له حکومت سره غرض ونه شي او تنها الهي حقونه په ځای شي. څوک چې حضرت ابراهيم عليه السلام ته د نمونې په سترګه ګوري، هغوی ته به اصل کار دا په نظر ورځي، چې کله خلک د حق دعوت ونه مني، نو داعي ته پکار ده، چې هغه ښار او سيمه پرېږدي او يوې دښتې ته ووځي او همالته د خدای کور ودان کړي او د خدای عبادت وکړي. د وروستي پيغمبر منونکي به وايي، چې د بدر، احد، حنين او احزاب په څېر د جګړو ډګرونه تودول د اسلام نوم دی. په قرآن کريم کې راغلي دي، چې ټولو پيغمبرانو ته الله هدايت ورکړی (انعام: ۷۴) نو تاسې د هغوی لاره ونيسئ (انعام: ۹۰) که اوس له تاريخ نه عقيده اخذ شي، نو هغه يوازنۍ لاره به کومه وي، چې په هغې باندې تګ به د ټولو انبياوو په لاره د تلو هممعنا وي.

د خدای دين، عقيده هم دی او تاريخ هم. خو موږ له عقيدې نه په عقيده پوهېدلی شو، له تاريخ څخه يې نه شو اخذ کولی.

د قرآن کريم په مکي سورتونو او د نبي صلی الله عليه وسلم له ابتدايي لس کلن ژوند څخه ثابته ده، چې په مکه کې د اسلام دعوت بالکل په غيرسياسي انداز کې پيل شو. نبي کريم ص به خلکو ته د توحيد، اخرت او انسانو ترمنځ د

(c) ketabton.com: The Digital Library

همدردي او خيرخواهي بلنه ورکوله او د يوه خدای عبادت ته به يې رابلل. رسول الله ص او ملګرو يې هېڅ کله د چا په خلاف د تشدد او تاوتريخوالي چلند نه دی خپل کړی او نه يې چاسره سياسي منازعات پالليې. خو له دې سره، سره د مکې سرداران بالکل په يو طرفه توګه د نبي کريم ص سره خلاف شول. په پيغمبر ص او مسلمانانو باندې يې هر ډول ظلمونو ته پايښې بډ وهلې. له بد و رد نه تر ټولنيزې او اقتصادي مقاطعې پورې هره خبره نبي کريم ص په يو طرفه ډول وزغمله، تر دې چې هغوی ټولو دا پرېکړه وکړه، چې ټول به په ګډه پيغمبر عليه السلام له تېغه تېروي. دې وخت کې نبي کريم ص له مکې نه هجرت وکړ او د عربستان بل ښار يثرب ته ولاړ.

عرب مشرانو اوس هم د نبي کريم ص شا پرې نه ښوده. له پوځ سره پسې ورغلل، تر څو د اسلام مرکز له منځه يوسي. په دې وخت کې نبي صلی الله عليه وسلم له خپلو ملګرو سره راووت. دغه جګړه د نبي کريم ص له لوري په بشپړ ډول دفاعي جګړه وه (بقره: ۱۹۰) د بدر په مقام کې د دواړو ډلو ترمنځ نښته وشوه. له پيغمبر ص سره د خدای مرسته مل وه او د عرب سردارانو زبردسته ماتې وخوړه. دې ماتې هغوی تر پخوا لا ډېر اور و لمبه کړل. د جنګ محاذ اوس نور هم پراخه شو. د مکې قريشو او د مدينې او خيبر يهودو د اسلام د ختمولو لپاره لاسونه سره يو کړل، چې په نتيجه کې يې له احد (۳ هـ) نه تر حنين (۸ هـ) پورې پرلپسې د نښتو او جګړو لړۍ روانه وه. بلاخره د مسلمانانو فتحه په برخه شوه او د مشرکينو او يهودو دواړو زور مات شو.

د عرب مشرکينو او يهودو چې په ګډه د اسلام د له منځه وړلو لپاره کوم ظالمانه اقدام کړی و، په هغه کې يې بشپړه ماتې وخوړه. مګر د هغوی پاتې‌شونو اوس يوه بله طرحه په کار واچوله. هغوی هڅه وکړه، چې بيروني حکومتونه (ايران او روم) د اسلام په خلاف راپاروي او د هغوی په مټ يې د ځپلو کوشش وکړي. دا حکومتونه دمخه لا په عربو کې د يوه نوي ځواک راپورته کېدو ته په تشويش کې و. اوس چې پخپله د عربو له منځه يې د يوې طبقې ملاتړ وموندې، نو هغوی لا ډېر زړور شول. خو دا پېښه د اسلام په حق کې يوه ستره غيبي مرسته ثابته شوه، په دې چې په دې وخت کې په اباده دنيا باندې له عملي پلوه د همدې دوو سلطنتونو غلبه خپره وه. د هغوی له لوري د جګړې پيلېدو مسلمانانو ته فرصت ورکړ، چې له افغانستان نه تر اسپانيې پورې سيمې فتحه کړي، بې له دې چې په دوی باندې دې د تېري او جارحيت الزام پورې شي.

د عربو په ګاونډ کې په دې زمانه کې دوه تر ټولو ستر سلطنتونه اباد وو. په ختيځ کې د خليج فارس بلې غاړې ته ساساني سلطنت و، چې له ايران نه علاوه د شاوخوا هېوادونو (پاکستان، افغانستان، ترکيې، عراق) برخې هم په کې شاملې وې. د لمر لوېده په خوا د سره سمندرګي بلې غاړې ته رومي سلطنت و، چې سر يې په شام او فلسطين کې و او د

(c) ketabton.com: The Digital Library

روم سمندرګي په غاړه د افريقا په ټولو شمالي هېوادونو يې ولکه وه. تر دې هاخوا يې پولې ان په اروپا کې تر ډېره لرې پورې غځېدلې وې.

دې دواړو امپراتوريو د عرب ټاپووزمې په زړه کې وچه بيديا پرې ايښې وه او په شاوخوا سرحدي سيمو کې يې څلورو خواوو ته خپل ماتحت عربي حکومتونه جوړ کړي وو، بله دا چې تر واک لاندې سيمو کې يې خپل مذهب هم خپور کړی و. سره له دې چې عربي ټاپووزمه يې د امپراتورۍ مستقيمه برخه نه وه، خو بيا يې هم دې سيمې ته د خپل ماتحت په سترګه کتل. د ابوطالب له مړينې وروسته نبي کريم صلی الله عليه وسلم د مکې موسمي بازارونو ته مخه کړه او بېلابېلو قبايلو ته يې خپل ځان وړاندې کړ، چې ما په خپل حمايت کې واخلئ، تر څو زه د خدای پيغام تر خلکو پورې ورسوم. په دې تړاو د يوې سرحدي قبيلې بنو شيبان د سردارانو خپلمنځي خبرې اترې په تاريخ کې رانقل شوې دي. د دې خبرو يوه برخه دا وه:

**«قال المثنی بن حارثه: انما نزلنا بين صيرين، احدهما اليمامة والاخری السمامة، فقال له رسول الله صلی الله عليه وسلم وما هذان الصيران. فقال له: اما احدهما فطفوف البر و ارض العرب، واما الآخر فارض فارس و انها وکسرا، و انما نزلنا علی عهد اخذ علينا کسری ان لا نحدث حدثا، ولا نؤوی محدثا. و لعل هذا الامر الذی تدعوا اليه تکرهه الملوک. فاما ما کان يلی بلاد العرب فذنب صاحبه مغفور و عذره مقبول. و اما ما کان مما يلی بلاد فارس فذنب صاحبه غير مغفور، و عذره غير مقبول. فان اردت ان ننصر مما يلی العرب فعلنا. فقال رسول الله صلی الله عليه وسلم ما اسأتم الرد اذا فصحتم بالصدق.»**

(البداية و النهاية)

ژباړه: مثنی بن حارث وويل، زموږ استوګنه د دوو پولو په منځ کې ده. يو يمامه او بل سمامه. نبي کريم ص وپوښتل، دا دوه پولې څه دي؟ د قبيلې مشر وويل، يوه لور ته د عربو ځمکې او غرونه يې دي. او بل لوري ته د ايران ځمکه او لښتې يې دي او موږ هلته د يوه تړون له مخې استوګن يو، چې کسرا سره مو کړی دی. تړون مو دا دی، چې موږ به کومه نوې خبره نه کوو او نه به داسې چاته پناه ورکوو، چې نوې خبره کوي. او کومې خبرې ته چې تاسې خلک بولئ، شايد پادشاهان بده ورباندې ومني. د عربي هېوادونو خبره خو دا ده، چې هغوی خطاکار ته بښنه کوي او عذر او پلمه مني. خو د فارس په سيمه کې خطارکار ته بښنه نه کېږي او عذر يې نه منل کېږي. نو که تاسې په عرب خاوره کې زموږ مرسته وغواړئ، نو موږ ورته اماده يو. نبي کريم ص وفرمايل، که رښتيني اوسئ، نو په ځواب کې مو بدي ونه کړه.

له دې نه ښکاري، چې بهرنيو امپراتوريو په څه ډول عربي سيمه د خپلو سياسي ګټو تابع ګرځولې وه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د نبوت په پنځم کال کې چې مسلمانان د مکې د خلکو له ظلمونو ډېر تنګ راغلل او ځینو مسلمانانو حبشې ته هجرت وکړ، نو د قریشو یوه ډله پسې ورغلې وه او هڅه یې کړې وه، چې د حبشې پاچا اصحمه نجاشي د مسلمانانو په خلاف ولمسوي. خو په دې هڅه کې ناکامه شوه.

دا ځل یې د ایران او روم امپراتوریو ته مخه واړوله. د یهودو او مشرکینو پلاویو له رومي واکمنو او ایراني پاچاهانو سره ولیدل او هغوی یې د اسلام له سیاسي خطرونو خبر کړل. پلان دا و، چې له یوه لوري له بیرون نه کوم حکومت د اسلام په مرکز (مدینه) برید وکړي، بل لوري ته د عربي قبایلو په منځ کې بغاوت او پاځون پیدا شي، او په دې ډول مسلمانان وځپل شي. ایران او روم د لرغونې زمانې تر ټولو سترې امپراتورۍ وې. هغوی د لرغونې ابادې دنیا د شاوخوا ټولې برخې مشرۍ په لاس کې لرله. هغوی خپل زور او ځواک ته ډېر زیات په غره کې وو. نو ځکه ډېر په اسانه د نوي هسکېدونکي ځواک د ځپلو لپاره اماده شوو.

همدا هغه زمانه ده، چې نبي کریم صلی الله علیه وسلم د شاوخوا پادشاهانو په نوم دعوتي خطونو استولي وو. د دې خطونو اصلي مقصد د وخت تر واکمنو پورې د اسلام دعوت رسول وو. خو د دې کار یوه اړخکلې ګټه دا هم وه، چې دغه واکمن اسلام په خپل اصلي حیثیت کې وپېژني او د غلط پروپاګند له امله په کومه غلطفهمي وانه وړي. بله تمه دا هم وه، چې که چېرته د واکمنو له منځ څخه ځیني د اسلام له فطري دعوت نه متاثره شول، نو د یهودو او مشرکانو سازشونه به خودبخود کمزوري شي. د مکتوبونو له لېږلو وروسته دا توقع تر یو څه حده پوره هم شوه. ځینې واکمن (مثلاً د عمان جلندي ورونه) مسلمانان شوو او ځینې نور (مثلاً د مصر واکمن مقوقس) د اسلام خواخوږي وګرځېدل.

خو دواړو سترو امپراتوریو (ایران او روم) مختلف غبرګون وښوده. د دې غبرګون لومړنی اظهار هغه مهال وشو، چې عبدالله بن حذافه سهمي د نبي کریم صلی الله علیه وسلم له مکتوب سره د ساساني واکمن خسرو پرویز دربار ته ورسېده. دا لیک ډېر په ساده مضمون مشتمل و. هېڅ کومه سیاسي خبره یې نه لرله. ټول خط فقط دومره و:

«د محمد رسول الله له لوري د فارس د پاچا کسرا په نوم. سلام پر هغه شخص چې هدایت ته غاړه ماته کړي او د الله او د هغه په رسول ایمان راوړي. زه تا د الله عبادت ته رابولم. زه ټولو انسانانو ته د خدای له لوري راغلی پیغمبر یم، تر څو انسانان د الله له عذابه ووېروم. او هغه خلک چې انکار وکړي، د هغوی لپاره پلمه پاتې نه شي. اسلام ومنه، ستا لپاره به خیر او سلامتي وي. او که انکار وکړې، نو د خپل مجوس قوم د انکار کولو ګناه به هم ستا په غاړه وي.»

پاسنی لیک کسرا د خپل شان په خلاف ولیده او په غوسه کې یې وویل: **ماته خطونه رالېږي، حال دا چې غلام زما دی. (یکتب الی و هو عبدي)** بیا یې لیک څیري کړ او ایسته یې وغورځاوه. همدومره نه. بلکې ټول نړیوال دستورونه یې تر پښنو لاندې کړل او د نبي کریم صلی الله علیه وسلم قاصد یې هم وواژه. په دې وخت کې یمن د کسرا تر لاس

(c) ketabton.com: The Digital Library

لاندې و. کسرا خپل یمني گورنر باذان ته ولیکل، چې «محمد صلی الله علیه وسلم ته دوه کسان ور ولېږه. هغوی دې محمد ونیسي او زما دربار ته دې یې راولي.» د دې امر له مخې باذان خپل دوه عسکر مدینې ته واستول، چې ناکام بېرته راستانه شول. له دې پېښې نه اندازه کولی شو، چې ایراني واکمن څومره کبرجن وو او عربو او مسلمانانو ته یې څومره په سپک نظر کتل.

د مدینې یهود چې د خپلو سازشونو او وعده خلافیو له امله د تورات د قانون مطابق، له مدینې نه تبعید شوي وو. هغوی خپل ځیرک او ژبور قاصدان د ایران پلازمینې مداین ته واستول او ایرانیان یې په مدینې باندې د برید کولو لپاره ښه ډېر ولمسول. په دې سره ایراني حکومت د نوي عرب ځواک د خاتمې لپاره ټینگه اراده وکړه. د لومړني خلیفه په زمانه کې منظمې نښتې شروع شوې. خو پایله یې برعکس راووته او د دوهم خلیفه په زمانه کې شاوخوا ټوله ساساني امپراتوري د اسلام تر بیرغ لاندې راغله. خو د ساساني سلطنت وروستی وارث یزدگرد لا هم ژوندی و. له هغه سره د زر ایرانیانو یوه ډله وه او د هغې په مرسته یې د اسلامي حکومت په خلاف یو ډول گوریلایي جگړې ته دوام ورکړی و. بلاخره د دریم خلیفه په زمانه کې یزدگرد هم د یوه ژرندگړي په لاس ووژل شو. دا پېښه مرو ته نږدې په مرغاب کې په ۲۳ اگست ٦٥١ز کې منځته راغله. تر هغه وروسته د ایراني سلطنت هېڅ دعواگر پاتې نه شو.

رومي شهنشاه هرقل ته هم د کسرا په څېر د نبي کریم صلی الله علیه وسلم خط ورسېده. سره له دې چې هغه د خط په مقابل کې کومه بې ادبي ونه کړه، خو په شام کې د هرقل تر لاس لاندې غساني دولت و، هغه ته چې کله د نبي کریم صلی الله علیه وسلم قاصد حارث بن عمیر ازدي خط ورساوه، نو د بصرې حاکم شرجیل بن عمرو غساني د شام په سرحد باندې نبوي قاصد وواژه. دا په صریحو ټکو کې د یوه حکومت له لوري په بل حکومت باندې تېری او یرغل و. نو نبي کریم صلی الله علیه وسلم یې په ځواب کې درې زره کسیز لښکر د شام سرحد ته روان کړ. هرقل خپل غساني حاکم ته د تنبیه په ځای په دې جگړه کې هغه سره هر ډول مرسته وکړه او د هغه له واړه پوځ سره یې سل زره رومي پوځ هم د جگړې ډگر ته کوز کړ. او د عربو او رومیانو په منځ کې هغه لومړنۍ جگړه پېښه شوه، چې د اسلام په تاریخ کې د غزوه موته (جمادي الاول ۸ هجري) په نوم مشهوره ده.

بیا خبره همدلته راغونډه نه شوه، بلکې د روم قیصر نېغ په نېغه د جگړې ډگر ته راودانگل او د دې لپاره یې منظمې هلې ځلې پیل کړې، چې د عربو دغه نوی هسکېدونکی ځواک په ابتدا کې لا له منځه یوسي. د شام د پولې سردار او د غسان پاچا، چې د قیصر باج ورکوونکی و، د هغه په ملگرتیا ډېر لوی لښکر برابر کړ. پلان دا و، چې په مدینه باندې برید وکړي او دغه نوی هسک شوی ځواک په سر کې لا وځپل شي. دغه رومي لښکر د اسلامي پایتخت په لوري حرکت راوکړ او بلقاء ته راورسېده. نبي کریم صلی الله علیه وسلم ته چې دا خبرونه راورسېدل، نو په ډېرو ناسازو حالاتو

(c) ketabton.com: The Digital Library

سربېره يې مسلمانانو ته د تياري امر ورکړ او د نهم هجري کال په رجب کې له ۳۰ زره کسيز لښکر سره د رومي سيمې په لور روان شول. مسلمانان د شام له سرحده ور تېر شول او تبوک ته رسېدلي وو، خو هلته معلومه شوه، چې د روم پاچا د جګړې له ارادې لاس اخيستی او خپلو پوځونو ته يې د بېرته ستنېدو امر کړی دی.

د لومړي خليفه په زمانه کې له روميانو سره د منظمې جګړې ابتدا په هماغه ځای (مؤته) کې وشوه، چېرته چې له دې نه مخکې روميانو د مسلمانانو دوه زره کسيز پوځ له منځه وړی و. په وروستيو جګړو کې د مسلمانانو کاميابي د روميانو مخالفانه جذبو ته لا ډېر پوکی ورکړ او هغوی له خپل ټول ځواک سره د مسلمانانو په خلاف صفونه وتړل. خو د الله په مرسته هر ځل فيصله د مسلمانانو په حق کې کېدله. دغه جګړه له شام او فلسطين نه تېره شوه او په شمالي افريقا کې تر رومي مقبوضاتو پورې وغځېده او مسلمانانو يو په بل پسې رومي هېوادونه فتح کول او ان تر مراکشه يې سرونه وايستل. او بلاخره د ۹۱ هجري کال د روژې په مياشت کې له جبرالټر تنګي واوښتل او په اسپانيه کې يې پښه کېښوده. دا ټوله سيمه چې د مسلمانانو په ولکه کې راغله، د لرغوني رومي سلطنت برخه وه. د رومي واکمنو د جارحيت لاسونه پخپله د هغو په ګرېوانه کې پرېوتل او بلاخره رومي واکمنو ته له دې پرته بله چاره ور پاتې نه شوه، چې خپل ټول شرقي مقبوضات مسلمانانو ته خوشي کړي او په غربي پايتخت (قسطنطنيه) کې پناه واخلي.

د اسلام په لومړني دور کې چې د مسلمانانو څومره جګړې وشوې، هغه ټولې د نورو قومونو د جارحانه اقدامونو په ځواب کې وشوې: د عربي خاورې دننه له قريشو او يهودو سره، او له عربي خاورې دباندې له ايران او روم سره. دا د خدای خاص فضل و، چې د جارحيت لاسونه پخپله د دې قومونو ګرېوانه ته ورتاو شول او مسلمانانو ته هر ځای برلاسی او غلبه په برخه رسېده.

د عربو په ګاونډ کې د حبشې نسبتاً کمزوری سلطنت و. خو دې سلطنت د مسلمانانو په خلاف هېڅ جارحانه اقدام ونه کړ. د همدې لپاره مسلمانانو هم د دې سلطنت په خلاف هېڅ نظامي اقدام نه دی کړی. سره له دې چې د دې کار قيمت يې دا پرې کړ، چې حبشه (ايتوپيا) نن ورځ د شمالي افريقا يوازنی ملک دی، چې مسلمان نفوس په کې تر ټولو کم دی او له دې امله دې هېواد د اسلامي دنيا په خلاف همېش مخالفانه چلند لرلی دی.

د ايرانيانو او روميانو له لوري د جارحانه اقدام په بنه الله تعالی مسلمانانو ته يوه داسې قيمتي موقع په لاس ورکړه، چې هغوی له اسيا او افريقا نه تېر شول او د اروپا تر وروستيو سرحدونو پورې يې فتحې وکولی شوی. په دې چې دا ټولې د همدې تېريګرو امپراتوريو سيمې وې او د دوی جارحيت مسلمانانو ته دې سيمو ته د ننوتو بشپړ جواز ورکړی و. خو د مسلمانانو خپلمنځي ناندری، په تېره د صفين او جمل په کورنيو جګړو کې د ۸۰ زره زړورو مسلمانو سرونو پاشل کېدل، هغه يوازنی پېښه ده، چې دغه امکان يې په خپل بشپړ شکل کې واقعيت کېدو ته پرې نه ښوده.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## انسان ته یوازې د ښه یا بد کرېډټ رسېږي

یوه ډېره لویه خبره چې انسان تر ټولو ډېره هېره کړې ده، دا ده چې په دې دنیا کې انسان کوم شخصي قدرت نه لري. په دې دنیا کې نه څوک چاته څه ورکوي، نه یې څوک له چا نه اخلي. د ځمکې په سر چې هره پېښه کېږي، د خدای په امر و اجازه کېږي. د انسان ټول حیثیت دا دی، چې دی په دې دنیا کې د امتحان لپاره پیدا دی. له ارادې پرته د انسان په وس کې هېڅ هم نشته. پېښې د دې لپاره د هغه مخې ته پېښېږي، چې د ده کړه او کوټه معلوم شي، تر څو خدای دا وګوري، چې د ده بنده په مختلفو رویو کې د ځان لپاره کومه رویه انتخابوي. د پېښو اهتمام د اللّه له لوري کېږي، انسان ته خو یې یوازې د ښه یا بد کریډټ رسېږي.

## چې کله د تاریخ پاڼه واړول شوه

د لرغوني عرب د شمال او جنوب زرخیزې ځمکې د هغې زماني د دوو لویو امپراتوریو، ساساني امپراتورۍ او بازنطیني امپراتورۍ، په ولکه کې وې. په شمال کې یې غساسنه امارت او بُصری امارت و. دا دواړه د بازنطیني سلطنت (رومیانو) تر لاس لاندې وو او په دې سیمو کې د هغوی له لوري عرب سردارانو واکمني کوله. د رومي اغېزو له کبله د دې ځای اکثریت نفوسو مسیحي مذهب غوره کړی و. د عرب په جنوب کې د بحرین امارت، د عمان امارت، د یمامه امارت و. دا دولتونه د ساساني سلطنت (ایرانیانو) ترلاس لاندې وو او د هغوی له اثر نه د دې ځای په اوسېدونکو کې مجوسیت خپور شوی و.

په ٦ هجري کې چې په حدیبیه کې له قریشو سره د اوربند لس کلنه معاهده وشوه او د سولې فضا رامنځته شوه، نو نبي کریم صلی الله علیه وسلم د عرب ټاپووزمې شاوخوا امپراتوریو ته دعوتي لیکونه ولیکل. په دې لړۍ کې یو لیک د حارث بن ابی شمر غساني په نوم و. د نبي کریم صلی الله علیه وسلم سفیر شجاع بن وهب و، چې لیک یې غساني ته ورساوه. په دې لیک کې دا هم و، چې په الله ایمان راوړئ، ستاسې حکومت به پخپل حال

(c) ketabton.com: The Digital Library

پاتې شي (**يق ملكک**). غساني چې په نبوي مکتوب کې دا کرښه ولوسته، نو غوسه شو. ليک يې په ځمکې وويشته او وېې ويل، څوک زما حکومت له مانه اخيستی شي؟ (**من ينزع ملکی مني**).

د بُصرى حاکم شرجيل بن عمرو غساني تر دې هم ډېر بې‌هوده برخورد وکړ. دې رومي گورنر ته د نبي کريم صلى الله عليه وسلم سفير حارث بن عمير ازدي مکتوب وړی و. نبوي سفير د شام په پوله باندې موته کلي ته ننوتی و، چې د بصرى په اشاره يوه کوچي د نبي کريم ص سفير وواژه.

د بين المللي دستوراتو له مخې دا پېښه د يوه هېواد له لوري په بل هېواد باندې د تېري او يرغل په معنا وه. له ببلابېلو قراينو دا هم معلومېده، چې د شام پوځونه غواړي، خپلې پښې وغځوي او د مدينې خاورې ته راننوځي. رومي شهنشاه دا خبره نه شوى زغملی، چې په عرب ټاپووزمه کې دې يو خپلواک حکومت وي او پيشرفت دې وکړي.

د حارث بن عمير د وژل کېدو غبر چې مدينې ته راورسېده، نو نبي کريم صلى الله عليه وسلم مهمه وګڼله، چې د تيرې ځواب بايد په تيرې سره ورکړي. نبي کريم ص امر وکړ، چې مسلمانان دې له خپلو وسلو سره د حرق په مقام کې راټول شي. درې زره کسيز اسلامي لښکر غونډ شو. نبي کريم ص زيد بن حارثه د دې لښکر مشر مقرر کړ او له اړينو توصيو وروسته يې د شام په لور روان کړ.

اسلامي لښکر معان (شام) ته ورسېده او پړاو يې وکړ. بلې خواته د بصرى حاکم هم د جنګ لپاره تيار شو. د ده حوصلې په دې هم لوړې شوې وې، چې له برابره مرغه هرقل هم په دې ورځو کې مآب (بلقاء) ته راغلی و. هغه سره سل زره کسيز مسلح پوځ و. بله دا وه، چې د سيمې عيسوي قبايلو لخم، جذام، قين، بهراء، بلّی هم د مسيحي عصبيت په جوش کې راپورته شول او د بني بلّی د مشر مالک بن زافله په مشرى کې جګړې ته اماده شول. په دې سره د شام په محاذ کې هم له سل زره نه ډېر لښکر جمع شو، حال دا چې د مسلمانانو تعداد مازې درې زره و.

دا جګړه د ۸ هجري کال په جمادي الاولى کې وشوه او زيد بن حارثه په کې د دښمنانو په لاس ووژل شو. تر ده وروسته جعفر بن ابى طالب او عبدالله بن رواحه د لښکر مشري په غاړه واخيسته او هغوی هم شهيدان شول. د مسلمانانو بيرغ چې راوپرځېده، نو د ګډوډې او انتشار يو کيفيت راپيدا شو. په دې وخت کې د اسلامي لښکر يو عسکر ثابت بن اقرم ور وړاندې شو او بيرغ يې پورته کړه او په لوړ غږ يې وويل، «**مسلمانانو! د کوم چا په مشري او امارت سره يوه خوله شئ.**»

مسلمانو پوځيانو اواز وکړ، **رضينا بک** (موږ ستا په سرداري راضي يو.) ثابت ابن اقرم ځواب ورکړ، **ما انا بفاعل فاتفقوا على خالد بن الوليد** (زه به دا کار ونه شم کولی، خالد بن وليد خپل مشر کړئ). بيا اواز راغی، «**موږته د خالد بن وليد سرداري قبوله ده.**» د دې خبرې په اورېدو خالد بن وليد ورمخکې شو او بيرغ يې په خپل لاس کې تم کړ

(c) ketabton.com: The Digital Library

او په رومي لښکر يې بريده وکړ او شاته يې وتمباوه. په دې جګړه کې دوولس مسلمانان شهيدان شول.

خو دا جګړه په قاطع ډول پای ته ونه رسېده. هر وخت دا انديښنه وه، چې د روميانو په مرسته غسانسه په مدينه راوخېژي او د دغه نوزېږي دولت د ختمولو کوشش وکړي. د پنځم هجري په ذي الحجه کې د بنوقريظه له منځه تلو وروسته چې په مدينه کې ځينې اقتصادي مسايل راپيدا شول او د رسول الله مېرمنو د اضافه نفقې مطالبه وکړه، نو نبي کريم ص ډېر زيات خفه شو او تر يوې مياشتې پورې يې کور ته ته د نه تلو قسم وخوړ. په دې برخه کې تاريخونو راوړي دي، چې يو صحابي د عمر فاروق ليدو ته راغی او هغه ته وويل، «اورېدلي دې دي؟» نو د عمر فاروق له خولې ناڅاپه ووتل «غسانسه دغو راغلل؟» له دې اندازه کولی شو، چې په دې زمانه کې د غسانيانو له لوري مدينې ته څومره خطر ور پېښ و.

نبي کريم صلی الله عليه وسلم دا مسئله په ډېر شدت سره محسوسوله. او د خپل ژوند په وروستيو ورځو کې يې چې کومو چارو ته په ډېر شدت توجه وکړه، په هغو کې غسانسه يا په نورو ټکو کې له روميانو سره د مقابلې لپاره د پوځ تيارول هم و. د دې موخې لپاره نبي کريم ص يو پوځ چمتو کړ. سره له دې چې په دې پوځ کې د ابو بکر او عمر په څېر لوی، لوی صحابه شامل وو، خو نبي کريم ص ډېر زيات حکمت ته لاس يووړ او د دې لښکر مشري يې اسامه بن زيد ته وسپارله. اسامه نه يوازې زړور ځوان و، بلکې په زړه کې يې له روميانو نه د انتقام شديده جذبه هم په څپو وه. په دې چې د مؤته په جګړه کې روميانو د هغه پلار زيد بن حارثه وژلی و.

خو د نبي کريم صلی الله عليه وسلم په ژوند مبارک کې دا لښکر وانه ستول شو. په دې چې په همدې وخت کې په پيغمبر عليه السلام باندې مرګوني مرض غلبه وکړه او له وفات وروسته صديق اکبر د اولني خليفه په حيث دا لښکر د شام په لوري ولېږه.

د دې لښکر حرکت هم د اسلامي تاريخ ډېره هيښوونکې پېښه ده. د نبي صلی الله عليه وسلم له وفات نه وروسته له هر لوري د ارتداد خبرونه راهسک شول. خلکو لومړي خليفه ته مشوره ورکړه، چې اوس د اسلام مرکز په خطر کې دی او په مدينه باندې د حملې لپاره بندوبست نيول کېږي، نو د دې لښکر لېږل دې وځنډول شي، خو د صديق اکبر دا ځواب د خلکو د خاموشه کولو لپاره کافي و چې «که زه په دې يقين ولرم، چې د لښکر له روانولو وورسته به مې کوم داړونکی حيوان په مدينه کې تنها ومومي او ځيري به مې کړي، بيا هم هغه لښکر نه شم ځنډولی، چې پخپله رسول الله چمتو کړی و.» د ابوبکر صديق دا ايماني جرأت په کار راغی. د اسامه لښکر نه يوازې د روميانو په مقابله کې بريالی شو، بلکې د رومي امپراتورۍ په مقابله کې د مسلمانانو فتحې د مرتدينو حوصلې هم ماتې کړې او نسبتاً په اسانۍ سره مغلوب شول.

په دې پېښه کې يو بل لوی حکمت هم شامل و، عرب قبايل همېش پخپلو کې سره جنګېدلي وو، او ډېره

(c) ketabton.com: The Digital Library

اندېښنه وه، چې د خپلو ځواکونو د اظهار لپاره چې بل میدان ونه مومي، نو بېرته به پخپلو کې په جګړو اخته شي. نبي کریم صلی الله علیه وسلم له مړینې سره عرب ځواک له رومي امپراتورۍ سره مخامخ کړ او د دې مسئلې چاره یې هم وکړه. اوس د عربو جنګیالي فطرت یو بهترین ډګر موندلی و. همدا ده، چې تاریخ ولیدل، چې هغه خلک چې د خپلو وطنوالو له وژلو او لوټلو پرته نور په هېڅ هم نه پوهېدل، هغوی په څه کم یوه پېړۍ کې ټوله دنیا فتحه کړه.




جان بګیټ ګلب په خپل کتاب ( The Life and Times of Mohammad) کې دې اړخ ته په اشارې لیکلي دي، چې «عربانو له نامعلومو زمانو نه له یو بل سره په جنګ و جګړو کې خپلې ورځې شپې تېرولې. دغه جنګ و جګړه به د کوم خاص علت پایله هم نه وه، بلکې د دوی د ژوندطرز یوه برخه وه. اوس چې د مسلمانانو په حیث له یو بل سره له شخړو او جګړو راګرځول شوي وو، نو دا څنګه شونې وه، چې د جنګې ذهنیت قبایلي وګړي دې د تل لپاره سوله ییز ژوند تېرولو ته مجبور شي؟ د اسلام پیغمبر ص چې کله په خپل لاس هغه لښکر روان کړ، چې په مؤته کې یې ماتې وخوړه، نو ګواکې د دې ستونزې حل‌لاره یې په ګوته کړه.

د ۶۳۴ز په اوړي کې درې عربي جبهو په فلسطین او شام حمله وکړه، په همدې وخت کې د شرقي عرب قبیلو چې د حیره د لحمي دولت له نیولو وروسته د ایران مخالف شوي وو، د فرات په لور ودانګل او په حیره یې ولکه وکړه. په ۲۶ اګست ۶۳۶ز بازنطیني (رومي) ځواک د یرموک په میدان کې بشپړه ماتې وخوړه او د شام ټوله سیمه تر طبریه پورې د عربو په لاس کې پرېوته. په فروري ۶۳۷ز د قادسیې په سیمه کې، چې له حیره نه څو میله لرې وه، ایراني پوځ په بشپړه توګه تباه کړای شو او په لرغوني عراق او ایراني پایتخت مداین باندې چې د دجلې په جنوب کې اوسني بغداد ته نیږدې واقع و، د عربو تسلط قایم شو. په ۶۴۰ز کې په مصر حمله وشوه او یو ځل بیا بازنطیني حکومت ماتې وخوړه او تر سپتمبر ۶۴۲ز پورې په ټول مصر باندې د عربو قبضه بشپړه شوه. په همدې کال کې پاتې ایراني پوځ د نهاوند په سیمه کې تباه کړای شو او ایراني سلطنت ته په بشپړه توګه د پای ټکی کېښودل شو.»

(c) ketabton.com: The Digital Library

د دوهمې هجري پېړۍ په پای کې د یوه هندوستاني راجا په غوښتنه هارون الرشید له بغداد نه یو متکلم هندوستان ته استولی و. د قرآن کریم تر ټولو لومړنۍ هندي ژباړه د یوه هندو راجا په امر شوې وه. په ۲۷۰ هـ کې د سند راجا مهروګ د منصورې (د سند یوه سیمه) امیر عبدالله بن عمر ته ولیکل، چې مونږ ته یو داسې کس راواستوئ، چې په هندي کې مونږ ته د اسلام دین رازده کړي. په منصوره کې په دې وخت کې یو عراقي مسلمان و، چې په هندوستان کې لوی شوی و او د دې ځای له ژبو سره بلد و. نو امیر همدی د راجا حضور ته واستاوه.دا عراقی درې کاله د راجا په دربار کې پاتې شو او د هغه په خواهش یې قرآن کریم هندي ژبې ته ترجمه کړ، چې هره ورځ به یې په خلکو لوسته او غوږ به یې ورته نیولی وي.

# نجات

قرآن کریم په یوه داسې زمانه کې راغی، چې په ټوله دنیا کې یو نه یو مذهب دود و. هېڅ داسې قوم نه و، چې یوه مذهب ته قایل نه وي. خو هر یوه له خپله ځانه ځینو شیانو ته د مذهب او خدای پرستي درجه ورکړې وه. د ځینو خلکو لپاره په مقدسو ځایونو کې راټولېدل او چکچکې او شپېلکې وهل د عبادت نوم و. (انفال: ۳۵) ځینې خلک په دې فکر وو، چې د عبادتخانو په ودانولو او خلکو ته په خوړو ورکولو به خپل خدای خوشاله کړي (توبه: ۱۹) ځینو خلکو د خدای پرستي معنا دا لیدله، چې له انساني هنګامو نه ځان وباسي او په تنهایي کې په یوه ګوښه کې کېني او د خدای نوم یاد کړي. (حدید: ۲۷) ځینې نور خلک وو، چې د خدای پرستي کمال یې په دې کې لیده، چې په دنیا کې چې هر ډول افکار او نظریات دود شي، مذهب هم د هماغو په رنګ کې ورنګول شي. (توبه: ۳۰)

قرآن کریم اعلان وکړ، چې په دې ټولو کې یو شی هم هغه نه دی، چې الله تعالی ته دې له خپلو بندګانو مطلوب وي، او چې ترسره کوونکی به یې د اخرت په انعامونو سرلوړی کړي. الله ته اصلاً یو شی مطلوب دی او هغه دا

(c) ketabton.com: The Digital Library

چې بنده خپل خالق «لوی» ومني او د هغه په وړاندې ځان «وړوکی» وګرځوي.

دا اصلاً د زړه کیفیت دی. له همدې امله الله تعالی تر ټولو دمخه د خپل بنده زړه ته ګوري. د زړه میلان، د زړه وېره، د زړه عاجزي هغه شی دی، چې اصلاً د خدای په نزد له یوه بنده نه مطلوب دي. خو انسان یو داسې مخلوق دی، چې په زړه کې یې کوم کیفیت وي، هغه یې ارومرو په ظاهر او عملي فعالیتونو کې هم ځان ښکاروي. که موږ له خپل زوی سره مینه لرو، نو زموږ په عمل کې به هم دا مینه ځان ښکاروي. که موږ له مار نه په وېره کې اوسو، نو زموږ حرکات به هم ارومرو د دې جذبې شاهدي ورکوي. دغه راز د خدای په نزد ځان «وړوکی» ګرځول، سره له دې چې د حقیقت له مخې یو قلبي کیفیت دی، خو کله چې دغه کیفیت د انسان په زړه کې په حقیقي معنا کې پیدا شي، نو ارومرو یې په اعضاوو او اندامونو او کړنو او کړو وړو کې هم ځان ښیي. په دې سره ټول ژوند په دې دایره کې راټول شي.

حقیقي خدای پرستي، چې د انسان لپاره به د اخرت د نجات ذریعه وي، دا ده، چې بنده الله تعالی په پوره معنا خالق، مالک، رب او حساب کوونکی او جزا ورکوونکی ومني. په هېڅ برخه کې ورسره څوک شریک نه کړي. بیا په زړه او ذهن کې هم د لویي دې احساس ته ځای ورکړي. د بنده دروني وجود د خدای د احسانمندي له جذبې سرشاره وي او د هغه د زور او ځواک له وېرې ولړزېږي. بیا یې لاسونه، پښې، سترګې، ژبه، او ټول غړي او اندامونه د همدې دایرې دننه خپلې دندې سرته ورسوي، چې خدای په خپل شریعت کې د هغو لپاره ټاکلې دي. بیا له نورو انسانانو سره په تعلقاتو او د دنیا په بېلابېلو معاملاتو کې هم هماغه رویه خپله کړي، چې خدای ښودلې ده. او له هغې رویې نه په ټینګه ځان وساتي، چې خدای منع ورنه فرمایلې ده. په دنیا کې هماغه انسان کامیابېږي، چې په دنیا پسې خپل ټول ژوند ولګوي. همدا راز په اخرت کې به هم د نجات حقدار هغه څوک وي، چې خپل ژوند یې ورته وقف کړی وي.



(c) ketabton.com: The Digital Library

## په خپلو وړتیاوو بروسه وکړئ، بیا به مو له نورو نه ګیله نه کیږي

کانې د هر انسان لپاره سخت دی. البته د هغه چا لپاره نرم دی، چې د کانې د ماتولو لپاره یې وسایل چمتو کړي وي. همدا خبره په هره معامله کې صدق کوي. که له استعداد او وړتیا سره د ژوند ډګر ته داخل شئ، نو هر ځای به خپل حق ترلاسه کړئ. او که بې له استعداد او وړتیا نه مو د ژوند په میدان کې قدم کیښوده، نو ستاسې لپاره په دې دنیا کې بې له دې نور هیڅ هم نشته، چې د خپلې خیالي حق تلفي په خلاف به فریاد و فغان کوئ.

له ماحول نه تمه مه کوئ، بلکې په خپل زحمت او وړتیا بروسه وکړئ، بیا به له ماحول نه هیڅ کله شکایت نه کوئ. له ماحول نه شکایت په اصل کې له ماحول نه ډېر د خپلې نا اهلي اظهار دی. په دې چې د دې معنا دا ده، چې تاسو هغه حتمي تیاری نه دی کړی، چې له ماحول نه د خپل حق د ترلاسې لپاره پکار دی.

---

## هغه نظریات چې ثابتول یې مذهب د بشر تخلیق دی، ټول غلط ثابت شول

یوناني لیکوال یومیرس (Euhemerus) ویلي و، چې خدایان په ابتدا کې لوی، لوی پادشاهان وو، چې د وخت په تیرېدو سره خدایان شول او لمانځنه یې شروع شوه. وروسته د دې عقیدې لپاره د ده په نوم یوه اصطلاح وضع شوه، چې یومیریزم (Euhemerism) بلل کیږي. د ده منظور دا و، چې خدایان د یوې تېرې زمانې انساني اتلان وو. د یوناني لیکوال دا نظریه مازې په قیاس ولاړه وه. نوموړي دې ټکي ته ډېره توجه ونه کړه، چې په چین، افریقا او نورو بعضې سیمو کې چې د نیکونو او پلرونو د لمانځنې مثالونه لیدل کیږي، هلته دغه لمانځنه د خدای له لمانځنې نه په یوه بله طریقه ترسره کیږي.

په پخوا زمانو کې به دغه راز خبرې مازې د تفریح او افسانو له مخې خلکو بیانولې. خو یوه پېړی دمخه په ډېره لویه کچه د دې سوال په ځواب پسې هلې ځلې پیل شوې، چې د مذهب ابتدایي بڼه څه وه. خو د څېړنې او پلټنې له اوږده سفر وروسته بنده ښېرته هماغته ورسېده،

(c) ketabton.com: The Digital Library

چېرته چې پخوا و. اوس دا ثابته شوه، چې مذهبي اعتقادات همدومره لرغوني دي، څومره چې د بشر تاریخ لرغونی دی.

بودیزم او جینیزم ګڼو څېړونکو په مذاهبو کې نه دي حساب کړي. د دوی په نزد دا دواړه د فلسفې مکتبونه وو، نه په حقیقي معنا کې مذهبونه. دا چې په لرغوني زمانه کې علمِ کلام (تیولوژي) او فلسفه وبله بېل نه وو، نو ځکه به ډېری وختونه فلسفه په علم کلام او علم کلام په فلسفه بدل شو. جین مذهب او بودایي مذهب په اصل کې د فلسفې په حیث سترګې پرانیستې. خو د زماني له تاثیراتو نه یې په وروسته وختونو کې د مذهب حیثیت غوره کړ. ګڼو هندي لیکوالو مثلاً ډي، ډي کوسمبي او رومیلا تاپر بودیزم یوه ټولنیزه فلسفه بللې ده، نه په عامه معنا کې مذهب. (۲۲)

سل زره کاله دمخه چې کله نیاندرتال انسان له مړیني وروسته خښ کړای شو، نو په قبر کې ورسره خواړه هم کېښودل شوو، تر څو د بلې دنیا په سفر کې د توښې کار ورنه واخلي. له دې نه ثابته شوه، چې خورا «ابتدايي انسان» هم له مړیني وروسته د ژوند په دوام باندې عقیده لرله.

«مذهب څنګه پیل شو» دا سوال په میتودیک ډول یوازې سل کاله وړاندې راپیدا شو.

له دې نه مخکې د بایبل د پیدایښت کتاب او د قرآن کریم په تأثر کې عموما داسې انګېرل کېدل، چې لومړنی انسان (آدم) چې کله پیدا کړای شو، نو په همدې وخت کې د خدای الهام هم ورکول شو، چې په هغه کې آدم ته دا ښودل شوي و، چې د خدای په نزد رښتیانی مذهب څه دی.

د مذهب د علماوو عموماً په دې خبره یقین وو، چې په دې ابتدايي مذهب کې وروستیو نسلونو ورانی جوړ کړ او په دې سره د مذهب مختلفي بڼې ایجاد شوې. په نولسمه پېړۍ کې په خاصه توګه د ارتقاء نظریې په تعلیم‌یافته طبقې کې دا فکر پیدا کړ، چې د مذهب تکاملي مطالعه وکړي او ابتدايي بڼې یې کشف کړي. په دې فکر کې دا فرض شوي وو، چې د ارتقاء اصول په هره برخه کې هماغسې پلي دی، څنګه چې ډاروین د بیولوژي په ډګر کې ښودلی دی.

په دې سره د ابتدايي مذهب (Primitive Religion) او عالي مذهب (Higher Religion) اصطلاحات منځته راغلل. دې لټون ډېر ژر انسان دې کشف ته ورساوه، چې د مذهب ابتدا مازې په ځینو وهمي خیالاتو (Illusions) وشوه. ورو په ورو اصلاحات راتلل او هغه ابتدايي مذهب تر اوسنیو عالي بڼو پورې راورسېده. په دې ډول ګواکې علمي تحلیل دا ثابته کړه، چې مذهب د خپل حقیقت له پلوه له یوه اروایي یا ټولنیز وهم نه ماسوا نور هېڅ هم نه دی. خو د مذهب د څېړونکو دې یقین تر ډېره بقا ونه کړه او د څېړنې وروستنیو نتایجو دا ابتدايي نتایج رد کړل.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ایډورډ ټېلر په ۱۸۷۱ کې د مذهب په اړه د خپلې نظریې د وضاحت لپاره د انیمیزم (روحواله) اصطلاح وکاروله. د دې معنا دا وه، چې ابتدایي انسان د خوب، هذیان او مرګ له پېښې نه دا نتیجه واخیسته، چې په ده کې یو لافاني روح هم شته. چې کله یې په خوب کې یو مړ شوی شخص ولیده، نو داسې یې وانګېرله، چې د انسان روح لـه مړینـې وروسته هم دوام کوي، له همدې نه ځینې ارواوې ورو پـه ورو په خدای بدلې شوې. په همدې زمانه کې سپنسر- دا نظریه وړاندې کړه، چې هغـه مړه خلک چې د ارواوو پـه بڼه لیدل کېدل، هغو ته یې د خدای (دیوتا) فکر وکړ او د هغو عبادت یې پیل کړ. خو د ټېلر او سپنسر نظریات چې وروسته څېړونکو تحلیل کړل، نو دې پـایلې تـه ورسېدل، چې دا خلک د دې خبرې په ثابتولو کې پاتې راغـلي دي، چې د ماقبل التاریخ انسان هـم پـه همـدې ډول فکـر او لیدلوری درلوده او د ارواوو له لارې خدای ته رسېدل یې مازې په قیـاس بانـدې ولاړ و. د دې نظریـې ملاتـړو دې سوال ته هم ځواب ونه وایه، چې که د مړو شویو انسـانانو لـه ارواوو نـه د خـدای تصـور راووت، نـو دا تصـور نړیـوال څنګه شو، حال دا چې د لرغونې زمانې پـه خاورینـه کـره بانـدې د خـورو ورو قبـایلو تـرمنځ د ارتبـاط او اړیکـو هـېڅ وسـایل موجـود نـه وو. پـه دې سره د انمیـزم (د پدیـدو روحواله) نظریه هم د مذهب د علمي توجیه لـه اړخـه نـن ورځ عملاً رد شوې ده.

د پدیدو د روحوالې یوه بله نظریـه آر. آر. میـرټ پـه ۱۸۹۹ کې وړاندې کړه. ده وویـل، چـې انسـان پـه شخصـي- اروا **(Personal soul)** عقیده نه لرله، بلکې په یوه غیرشخصي- ځواک **(Impersonal Force)** ګروهمن و، چې دنیا تـه یـې ژوند ببښلی. ده خپلې نظریې ته د انیمیټیزم **(Animatism)** نوم ورکړ. خو وروستنیو تحقیقاتو وښودله، چې ده مازې په یـوه لفظـي مغالطـه بانـدې خپلـه نظریـه درولـې وه. د بحرالکاهـل پـه غـاړه اوسـېدونکي ځینـې قبایـل چـې میلانیسین **(Melanesian)** یې بولي، د هغو په ژبه کې یوه کلمه منا **(Mana)** ده. میرټ فکر وکړ، چې د قبیلې خلک دا کلمـه د روحـاني ځـواک پـه معنـا کـې کـاروي او د غیرشخصي ځواک همدا عقیده د مـذهب اساس دی. ده همدا راز دا خبره هم وکړه، چې لرغونی انسان «مفکر» نه و، بلکې «ممثل» و. له دې امله د لرغوني انسان مـذهب له جادو سره ډېر کم فرق درلـوده. خـو وروسـتیو تحقیقـاتو وښودله، چې دا قبایل د «منا» کلمه د غیرشخصي ځواک په معنا کې نه کاروي، چې دې کایناتو ته یـې ژوند ډالـۍ کړی دی. هغسې چې میرټ او نـورو خلکـو ګـمان کـړی دی، بلکـې د امتیـازي روحـاني صفت پـه معنـا کـې یـې کاروي.

په ۱۸۹۰ کې جیمز فریزر د کتابونه یوه لـړۍ خپـره کـړه، چې په هغو کې یې تر ټولو ډېـر خـاص اثـر طلایـي ښاخ **(The Golden Bough)** و. ده خپـل کتـاب د «مقدسـې ونې» په داستان پیل کړی دی، چې د لرغونې اټـلې پـه اربسیا سیمه کې یوه شخص لګولې وه. د ده خیال و، چې په دې ونه کې یو ډول روحـاني ځـواک دی او د دې ونـې پـه مرسـته ګنـې جادویي کرشـمې ښـودل کېـدی شي. د دغسې واقعاتو له مخې فریزر یوه نظریه وضع کړه، او هغه دا وه، چې له جادو نه تر مذهبه او بیا تر ساینسه:

(c) ketabton.com: The Digital Library

(Magic to Religion to Science)

ده وویل، چې کله انسان په لومړي ځل د جادو په طریقه کې ماتې وخوړه، نو انسان داسې فکر وکړ، چې کومه مافوق هستې شته، چې د هغه په مرسته په جادو کې خپله بریا یقیني کولی شي. په دې سره جادو د مذهب بڼه غوره کړه. بیا انسان منطقي او تجرباتي طریقې ته ورسېده، چې د ساینس په نوم پېژندل کېږي. د تکاملي جاذبې له امله دې نظریې په ابتدا کې ډېر زیات مقبولیت وموند. خو ډېر ژر معلومه شوه، چې د دې مفروضې لپاره هېڅ تاریخي ثبوت نشته، چې جادو ړومبی و او مذهب له هغه وروسته وجود ته راغی. د کلچر په هر پړاو کې د تاریخي اسنادو له مخې، مذهب او جادو دواړه خوا په خوا پاتې شوي دي. د همدې لپاره دا نظریه چې «اول جادو و، بیا مذهب شو، بیا ساینس» یوه غیرتاریخي نظریه ده.

په ۱۹۲۲ کې لوسین لیوي بروهل د اولیه ذهنیت (Primitive Mentality) نظریه وړاندې کړه. ده وویل، چې د لرغوني زمانې وحشي انسان به له یوه ابتدایي منطقي تفکر (Pre-logical Thinking) نه استفاده کوله، چې زموږ له اوسني تفکر نه بل راز و. ده په دې نظریه تنقید وکړ، چې ټولو انسانانو یو شان صلاحیتونه درلودل. ده مثال راووړ، چې ټول «پسمانده» ملتونه د خپل مرګ توجیه د طبیعي اسبابو په ځای په نورو اسبابو کوي. د دوی په نزد انسان مازې د ناروغي یا زړښت له امله نه مري، بلکې کوم مرموز ځواک شته، چې دی وژني. خو د تېرو سلو کلونو د نورو مذهبي شارحینو په څېر لیوي بروهل هم مازې یو دفتري مفکر وو، چې د اوسنی زمانې له «ابتدایي انسان» نه هېڅ خبر نه و. تر دې چې دی له دې خبرې هم بې خبره و، چې د لرغوني انسان د تفکر طرز څه ډول و. حقیقت دا دی، چې د ابتدایي دور انسان ډېر ښه پوهېده، چې مرګ څنګه د طبیعي اسبابو له مخې راځي، سره له دې چې دې سره به یې یوه روحاني توجیه هم اضافه کوله.

یوه بل فرانسوي لیکوال امانیل درخیم په ۱۹۱۲ کې د مذهب په اړه خپل کتاب خپور کړ. ده په دې ټکي زور کړی و، چې مذهب یو ټولنیز واقعیت (Social Fact) دی، نه دا چې د انسان د نفسیاتو پیداوار. مذهب وهم نه شي کېدی، په دې چې په هره زمانه کې په هر ځای کې پایېدلی دی. نوموړي د اخلاقو او قوانینو لوی، لوی نظامونه جوړ کړل. خو د درخیم په نزد مذهب پخپله د ټولنې د لمانځنې نوم و، سره له دې چې ځان د مرموز سمبولونو په جامه کې څرګندوي. درخیم خپل تصور د استرالیا له ځینو لرغونو قبایلو نه اخیستی و. خو په همدې انتخاب کې د درخیم غلطي نغښتې وه، په دې چې دی هېڅ کله هم استرالیا ته نه و تللی. ده د نورو په راټولو کړو نیمګړو معلوماتو د خپلې نظریې ماڼۍ درولې وه او بیا یې دا استنباط کړی و، چې خلکو د استرالیا د همدې لرغونو قبایلو مطابق کړه وړه درلودل. دې لرغونو قبایلو بعضي بوټو او حیواناتو ته په مقدس نظر کتل او د هغو خوراک یې ناروا بلل. د ځینو مشابهتونو له امله درخیم دا قبایل د شمالي امریکا د هندي قبایلو د توتم (Totem) سره ورته ولیدل او ویې ویل چې دا بوټي او حیوانات د قبیلې د

(c) ketabton.com: The Digital Library

اجتماعي ارزښتونو سمبولونه وو، چې بلاخره یې د مذهب بڼه خپله کړه. خو نه یوازې د توتم دا تصور یو واقعیت ثابت نه شو، بلکې له تاریخي پلوه دا هم معلومه نه شوه، چې د توتم عقیده دې د مذهب له عقیدې نه دمخه موجوده وي.

له دې نه هم ډېره کمزورې توجیه هغه وه، چې د استرالیا ارواپوه زیګمنډ فرویډ په ۱۹۱۳ کې وړاندې کړه. ده په خپل کتاب **Totem and Taboo** کې د بحرالکاهل سیمې د بعضي قبایلو کیسه ولیکله، چې په لرغونې زمانه کې یوه ځواکمن پلار د کورنۍ ټولې ښځې د خپل ځان لپاره ځانګړې کړې وې. وروسته چې هلکان ځوان او زړور شول او پلار زوړ شو، نو «یوه ورځ» هغوی په ګډه خپل پلار وواژه او ښځې یې په خپلو کې سره وویشلې. بله دا چې دې قاتلینو خپل مړ «پلار» وخوړ. د دې معنا دا وه، چې د پلار اروا په دوی کې ننوته، چې دوی به ترې وېرېدل او د پلاره اروا به یې تر ځان برتره ګڼله. د دې په خوا کې دوی ځینې حیوانات مقرر کړل، چې د پلار د ځواکونو سمبول وو. بیا یې جشنونه نمانځل پیل کړل، چې په دې جشنونو کې به یې خپل پاسني اعتقادات تمثیلول او همدغه شی اهسته اهسته په مذهب بدل شو.

خو د دې عجیبې او غریبې نظریې لپاره وروستنیو څېړونکو هېڅ تاریخي ثبوت ونه مونده. خپل «پلار» په یاده بڼه خوړل، د دې مثال احتمالاً په ټول تاریخ کې مازې په استرالیا کې او هغه هم یو ځل لیدل کېږي او په هغه کې هم ډېر زیات شواهد ګونګ او مبهم دي. داسې هېڅ تاریخي، اثاري یا بل لاسوند نشته، چې مذهب دې په همدې ډول د زمانو له لوري د پلار د وژلو له پېښو پیل شوی وي، یا دا چې مذهب په ټوله دنیا کې تنها له یوه ځایه خپور شوی دی یا په هر ملک کې په همدې یوه طریقه پیل شوی دی.

د مذهب د پیل په هکله د اروایي یا ټولنیزو نظریاتو بالکل بالعکس د ځینو لیکوالو دعوا ده، چې تر ټولو لرغونې مذهبي عقیده د یوه برتر ذات عقیده وه. انډریو لانګ په ۱۸۹۸ کې خپل کتاب د مذهب جوړېدل **(The Making of Religion)** او ویلهلم شمیت خپل کتاب د خدای د تصور ابتدا **(The Origin of the Idea of God)** خپور کړ او په کې یې دا نظریه په ډېر شدت سره پېش کړه. لانګ اوږده سفرونه وکړل او کلونه کلونه یې له ټولې دنیا نه لاسوندونه او شواهد راټول کړل. او ویې ویل چې د یوه خدای عقیده په خورا لرغونو انسانانو کې موجوده وه او همدې ته لومړنۍ مذهبي بڼه ویل کېدی شي. وروستنیو لیکوالو اعتراف کړی دی، چې په ګنو ابتدایي قبایلو کې د یوه خدای تصور موجود و او په خوا کې یې دا هم ویلي دي، چې د یوه خدای په خوا کې د نورو خدایګوټو تصور هم و. دغه راز د «یوه خدای» تصور ګواکې د ګنو خدایانو د منلو یوه برخه ده.

د مذهب د پیل په اړه د تېرو مفروضو د غلط ثابتېدو له امله اوس په دې ډګر کې ښکېل علما ډېر زیات محتاط شوي دي. که مذهب همدومره لرغونی وي، څومره چې د انساني غور و فکر تاریخ لرغونی دی، نو بیا مذهب له

(c) ketabton.com: The Digital Library

دومره لرې ماضي سره تعلق ټينګوي، چې په ظاهر کې دا ناشونې ده، چې د ابتدا په اړه يې کوم منلی سند په لاس راشي. د رومانوي محقق (Mircea Eliada) په خبره، «د اوسنۍ زمانې مذهبي مؤرخين پوهيږي، چې دا ناشونې ده، چې د مذهب ابتدايي بڼه دې معلومه کړای شي.

پخوا د مذهب د څېړونکو ګمان دا و، چې که دا ثابته شي، چې د مذهب ابتدا په ځينو وهمي تصوراتو شوې ده، نو د راوروسته زمانې د مذهب پرمختللې بڼې هم بې بنياده ثابتېدلی شي. خو اوس دا امکان له علمي پلوه له منځه تللی او دا خوب بې تعبيره شوی دی، چې مذهب دې اروايي فرېب (Psychological Illusion) يا ټولنيز فرېب (Sociological Illusion) ثابت شي. اوس دا ذهنيت مخ په رابرېدو دی، چې هڅه بايد وشي، چې مذهب په هغه بڼه وپېژندل، چې نن ورځ دی، نه دا چې د ابتدايي بڼو د کشفولو په بې حاصله کوششونو کې خپل وخت برباد کړای شي.

د مذهبي ارتقا د ابتدايي بڼې د کشفولو ذهنيت له ډاروينيزم وروسته پيدا شوی و او دا فرض شوي وو، چې هغه وحشي قبايل چې نن ورځ په ځنګلونو کې ژوند تېروي، د «لرغونې زمانې» انساني پاتې شونې دي. او په مهذبه ټولنه کې مېشت وګړي د پرمختللې زمانې انسانان. د دې معنا دا وه، چې په وحشي قبايلو کې چې د مذهب کوم تصور موجود وي، هماغه د لرغونې مذهب ښکارندويي کوي. او په پرمختللې ټولنه کې چې کوم مذهب دی، هغه د مذهب پرمختللی شکل راښيي. خو دې مفروضې ته ډېر ژر غبېره ورکول شوه، حال دا چې حقايقو د دې مفروضې نفي کوله. مثلاً داسې ابتدايي قبايل شته چې په هغو کې د يوه برتر خدای عقيده موجوده ده، حال دا چې د بوديزم په پيروانو کې ګڼ پرمختللي وګړي خدای نه مني.



(c) ketabton.com: The Digital Library

# داکرشمه د قرآن وه

له اسلام نه دمخه د عربستان په ټاپووزمه کې تعلیم ډېر کم و. په ۷ هجري کې د جواثا (بحرین، الحسار) په ځېر لوی مقام ته نبي صلی اللّه علیه وسلم یو تبلیغي لیک واستاوه. راوي وایي چې په ټوله سیمه او قبیله کې یو شخص هم نه و، چې لیک دې ولوستی شي. خلک مو لټول، تر دې چې یو زلمی مو پیدا کړ، چې لیک یې ورته ولوسته. شاوخوا د همدې زماني واقعه ده، النمر بن تَولَب مسلمان شو. دی د یوې لویې قبیلې سردار و او دومره لوی شاعر و، چې د شعرونو یو سلامت دیوان یې ترتیب شو. نبي صلی اللّه علیه وسلم دی د خپلې قبیلې عکل (یمن) مشر مقرر کړ او یو تحریري لیک یې ورکړ. خو ده هغه لیک لوستی نه شوی. په بازار کې یې پوښتنه وکړه، چې «په تاسې کې څوک په لیک لوست پوهېږي، چې دا خط راته ولولي.» ویل کېږي، چې د نبوي بعثت په وخت کې په مکې ښار کې په ډېر مشکل سره لس داسې کسان پیدا کېدل، چې لیک و لوست به یې زده وو. په مدینه کې تر دې هم کم عرب له دې فن سره اشنا وو. خو په دوهمه هجري پیړۍ کې عربي ژبه له علمي پلوه د دنیا له بډایو ژبو څخه شوه. په عربانو کې د ژبني پرمختګ زمانه دومره لنډه ده، چې د نړۍ په لرغوني تاریخ کې یې هېڅ ساری نه لیدل کېږي. دا حیرانوونکې پېښه نېغ په نېغه د قرآن کرشمه وه.

***




# حق به په خپل بشپړ بربنډ حالت کې یوازې په اخرت کې ظاهرېږي.

دا دنیا د امتحان وطن دی. دلته د اللّه تعالی سنت دا دی، چې حق به په مشتبه او ملبوسو شکلونو کې مخې ته راځي. (انعام: ۹) خدای د حق بیرغ جګوونکی د پرښتې په څېره کې نه رااستوي. بلکې د بشریت جامه وربانديې غوړوي. تر څو خلکو ته د خپل ځان په څېر یو انسان په نظر ورشي:

«نبي کریم ص چې کله خپل قوم ته د حق پیغام څرګند کړ، نو د هغه د قوم انکار کوونکو سردارانو وویل: موږ خو تا ایله د خپل ځان په څېر یو بشر ګورو او نه دې وینو چې زموږ له ټیټو (بې پته) بې فکره (ساده) خلکو پرته بل چا ستا متابعت کړی وي او پر موږ باندې ستاسو کوم غوره والی هم نه درکې وینو، بلکه زموږ خیال خو دا دی، چې ته د خدای استازی نه یې، او موږ خو تاسو دروغجن ګڼو. (هود: ۲۷)»

د مؤمن او غیرمؤمن تعریف که د حقیقت په ژبه کوو، نو ښایي په دې ډول به وي:

مؤمن هغه دی، چې د دلیل او معقولیت په ټکو کې په خبره پوه شي. غیرمؤمن هغه دی، چې خبره به یوازې هغه وخت اوري، چې د خدای اواز لوړ شي، سره له دې چې د هغه مهال اورېدنه به چاته هېڅ ګټه ونه رسوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



(c) ketabton.com: The Digital Library

د قرآن کریم په ۱۶مه سوره کې ارشاد دی:

«او ستا رب د شاتو مچۍ ته په زړه کې ورواچوله چې په غرونو، ونو او هغو څپرو کې چې خلک يې لوړې جوړوي، کورونه جوړ کړه. بیا د هر ډول مېوو نه

په دې کې هغو خلکو ته (لويه) نښانه ده چې فکر کوي. (نحل: ۶۸ – ۶۹)»

شات نه يوازې يوه لذيذه طبيعي غذا ده، بلکې له لرغوني زماني نه د علاج او درملنې په توګه هم



خوراک کوه او د خپل رب په هوارو کړيو لارو روانه اوسه د دوی له ګېډو د بېلابېلو رنګونو يو شربت راوځي چې په هغه کې د خلکو دپاره شفا ده، يقيناً

کارول شوي دي. د شاتو د جوړولو لپاره خدای يو حيرانوونکی نظام برابر کړی دی. په دې نظام باندې په اوسنی زمانه کې کافي معلومات راټول شوي دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

حقیقت دا دی، چې د دې نظام یو، یو جز د حیرانتیا تر بریده عجیب دی. خو دا څېړنې تر دې دمه پای ته نه رسېدلې او یوازې خدای بهتر پوهېږي، چې څومره

کې یوه حیرانوونکې خبره کشف شوه، چې دلته به یې لنډېز درته ولیکو.

د طب د علم له مخې میکروبونه د ناروغیو لامل



نور اړخونه به یې د انسان په علم کې راتلو ته پاتې وي.

په قرآن کریم کې ارشاد دی، چې په شاتو کې د خلکو لپاره شفا ده. په وروستیو وختونو کې په دې برخه

ګرځي. نویو څېړونکو ثابته کړې ده، چې شات د دې میکروبونو د وژلو لپاره خورا ډېر مؤثر دي. په دې خبره خو انسان له ډېرې لرغونې زمانې نه خبر و، چې شات له ناروغیو نه د مخنیوي په برخه کې ډېر

(c) ketabton.com: The Digital Library

کامیاب خواره دي، خو له ساینسي پلوه دا خبره په همدې شلمه پېړۍ کې مخې ته راغله.

ډاکټر ډبلیو جي ساکټ چې یو وخت د فورټ کولنس په کولوراډو زراعت پوهنځي کې و، هڅه کوله، چې دا ثابته کړي، چې شات ناروغۍ خپروي او په شاتو کې میکروبونه هماغسې وده کوي، لکه په شیدو کې. خو نوموړي هغه وخت ډېر زیات تعجب وکړ، چې هغه میکروبونه چې ده په خالصو شاتو کې اچولي وو، ډېر ژر مړه شول. هغه میکروبونه چې تایفاید تبه پیدا کوي، په خالصو شاتو کې په ۴۸ ساعتونو کې په بشپړه توګه ختم شول. هغه میکروبونه چې د کولمو چینجي پیدا کوي، هغه هم په شاتو کې یوازې ۴۸ ساعته ژوند کولی شي. بعضې هغه میکروبونه چې د ستوني ناروغۍ پیدا کوي، هغو ډېر زیات مقاومت وکړ. خو دا میکروبونه هم په شاتو کې له څلورو ورځو نه ډېر ژوندي پاتې نه شول.

د میکروبو یو قسم چې خطرناکې ساري ناروغۍ پیدا کوي، هغه د تجربې په پنځمه ورځ مړه وموندل شول.

د شاتو د دې میکروب وژونکي خاصیت علت د ډاکټر بوډوک بیک په نزد دا دی، چې په شاتو کې د رطوبت د جذبولو صلاحیت (Hygroscopic Ability) موجود دی. شات بس دومره کوي، چې د میکروبونو ټول رطوبت خپل ځان ته جذبوي. میکروبونه، د نورو ټولو ساکښو موجوداتو په څېر له اوبو پرته ژوندي نه شي پاتې کېدای. نو شات چې د هغو ټول رطوبت وزبېښي، نو هغه سمدلاسه مړه شي.

په شاتو کې د رطوبت زبېښلو صلاحیت تقریباً لامحدود دی. د شاتو دا قوت دومره پیاوړی دی، چې ان د اوسپنې، ښیښې او کاڼي رطوبت هم جذب کولی شي.

**خدای له فضا نه د انسان لپاره اوبه راوروي. د څارویو له ګېډو خوندورې شیدې راباسي. په ونو کې ډول، ډول خوږې مېوې پیدا کوي. مچۍ یې د شاتو په څېر د قیمتي شي د تولید کارخانې ګرځولې دي. بیا هم انسان د خدای په کاریګري غور نه کوي، بیا هم انسان د خدای شکر نه ادا کوي.**

## پای

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**